ما هم ژړل ټولې دنيا راسره هم وژړل
چې يې سندره زمزمه کړه په سلګو کې

# سندرې په سلګو کې

دويمه شعري ټولګه

بصير بېدار ستوری

# کتاب پېژندنه


- **د کتاب نوم**: سندرې په سلگو کې
- **شاعر**: بصير بېدار ستوری
- **خپرندوی**: د پښتونخوا د پوهنې ډېره ـ پېښور
- **چاپ وار**: لومړی
- **چاپشمېر**: ۱۰۰۰ ټوکه
- **چاپکال**: ۱۳۹۹ل\۲۰۲۰م
- **ډيزاين**: ذبيح شفق

zabishafaq@yahoo.com
(WHATSAPP: 0092 (0) 3109660847)

- **چاپځی**: دانش گرافکس اينډ پرينټرز ـ پېښور


## د موندلو پتې:

۱ـ **يونيورسټي بک ايجنسي**، خيبر بازار پېښور

۲ـ **د پښتو اکېډيمۍ د کتابونو دوکان**، پېښور پوهنتون

۳ـ **حکمت کتاپلورنځی**، اسحاقزي مارکيټ، جلال اباد



# سندرې په سلگو کې

ښاغلی بصير بيدار ستوری د پښتو ژبې او ادب د ستوري په توگه له اوږدې مودې راهيسې پېژنم او وخت پر وخت مې ددې غزلبول شاعر خواږه او په زړه پورې اشعار لوستي او خپله ادبي تنده مې پرې ماته کړې ده.

ما د ښاغلي بېدار لومړنۍ شعري ټولگه د (وينو کرښې) ډېره موده لوستې او يو تنقيدي ليک مې پرې هم کړی و او دا وخت نوموړي د يوې نوې شعري ټولگې د چاپ تابيا کړې، چې د يو شمېر شعرونو بيلگې يې زما په مخ کې پرتې دي او مانه يې پرې د څه ليکلو غوښتنه کړې ده.

ما د گران بېدار صيب د شعرونو مسوده ولوسته او تاسو درانه لوستونکي به يې هم که خدای کول ډېر زر ولولئ او په اړه به يې خپل قضاوت وکړئ او نظر به پرې څرگند کړئ.

ښاغلی بېدار خوږه او خوندوره شاعري کړې او په هر کلام کې يې د خپل قام او وطن دردونه او ناخوالې له ورايه ځلېږي او تر سترگو کېږي.

بېدار د دردونو شاعر دی، خو په رنگونو او ښکلا هم مئېن دی او ټوله شاعري يې له لوړ احساس او رنگينو خيالونو او

عواطفو ډکه ده.

د بېدار په شاعرۍ کې ځای ځای انساني مینه او هېواد پالنه څرکونه وهي او زړه یې له سوچه انساني جذبو او د خپلې خاورې او ولس له سپېڅلې مینې ډک او مالامال دی. د بېدار په ټوله شاعرۍ او فن تل همدغو سپېڅلو ملي افکارو او د انسان دوستۍ نظریې سیوری غوړولی او په هر کلام او وینا کې یې همدا رنګونه جوت او پیاوړي ښکاري.

که محترم بېدار صاحب له یوې خوا د خپل ولس او وطن په روانو ویرجنو او دردناکو حالاتو ژړلي او اوښکې یې بهولي، له بلې خوا یې د طبیعت ښکلا، مینې او د ژوند بېلابېلو رنګونو او رڼاګانو ته هم په خپله شاعرۍ کې ځای ورکړی او هغه یې په ډېر موثر او ښکلي انداز بیان کړي او خپل قلم ته سپارلي دي.

بېدار چې کله هم د خپل ولس او پښتون قام بدې ورځې او ناخوالې لیدلي، نو ښه په زوره زوره ژړېدلی، زړه یې پرې ډېر دردېدلی او دا ټول غملړلي او دردوونکي حالات او پېښې یې په سندرو او سلګو خپل قلم ته سپارلي او د خپلې شاعرۍ په لمن کې ځای کړی دي.

بېدار که څه هم له خپل هېواده لرې په پردي وطن کې د مسافرۍ شپې ورځې تېروي، خو روحاً په خپل وطن کې دی او هره شېبه یې د فکر مارغه د کونړ په دنګو او اسمانڅکو غرونو کې پروازونه کوي او د خپلو خلکو دردونه او د ژوند ناخوالې او کړاوونه یې هېڅکله هم خوب او خندا ته نه پرېږدي.

نوموړی وایي:



زړه مې ډک شي خامخا راته راځي
د وطن په حال ژړا راته راځي
ماته خوب له وېرې نه راځي وېرېږم
تل په خوب یوه (بلا) راته راځي

نوموړی د وطن له بدو حالاتو سر ټکوي او په خپله جنګ ځپلې خاوره کې له ستر رب څخه سوله، امن او هوسایي غواړي:

دا حالت چې وینم سم لېونی کېږم
نو غوسه خو په رښتیا راته راځي
ما بېدار لاس پورته کړی امن غواړم
خولې ته بس دغه دعا راته راځي

ښاغلی بېدار په خپلو شعرونو او ویناوو کې په خپل ولس د یووالي او ملي پخلاینې غږ کړی او خپل مینه وال او افغانان یې هڅولي، چې له بې ځایه نفرتونو، ځانځانیو او خپلمنځي تاو تریخوالي څخه ځانونه وساتي او له خپلو ځانګړو ګټو څخه ټولنیزو او ملي ګټو ته ارزښت ورکړي.

مینه زړونه رانژدې کړي نفرت زړونه سره بېل کړي
زما مینه انتخاب دی د نفرت نه مې نفرت دی
ځئ چې ټول شو سره وروڼه دا یو څو ورځې ژوندون دی
اخرت د هر چا بېل دی د هر چا بېل بېل قسمت دی

د بېدار په شاعرۍ کې د پښتون ولس د ستړي او زوروونکي ژوند ترخو پېښو او روانو ویرجنو او کړکېچنو حالاتو ته ځانګړی ځای ورکړل شوی او د ګل او بلبل، ساقي او مېنا، نشو او تماشو او مستیو او خمارونو په ځای د خپل غم ځپلی قام او وینې وینې خاورې دردېدلی او غملړلي حالات انځور شوي او

قلم ته سپارل شوي دي.

نوموړی په يوه ښکلي غزل کې د خپلې وينې وينې خاورې اوښکې اوښکې تصوير او انځور داسې د کاغذ پر مخ کښلی او زموږ مخې ته ايښی دی:

دا په دېوال چې اوېزان تصوير خبرې کوي
ما سره هر وخت د جانان تصوير خبرې کوي
خړو گردونو د بارودو کې يې رنگ بدل شو
د هر پښتون او هر افغان تصوير خبرې کوي
چې وژني ورور او پرې د کفر فتوه هم لگوي
دا به وي څنگه مسلمان تصوير خبرې کوي

بصير بيدار ستوری صيب په سينه کې له مينې ډک او مهربانه زړه لري، هغه د خپل ولس او قام په هر غريب او بې وزله هېوادوال دردېږي او د هغوی بدې ورځې او د ژوند ناخوالې يې کرار او ارام ته نه پرېږدي.

نوموړی وايي:

ويښ شي نيمه شپه کې ورته وژاړي
ژوند نه په گېله کې ورته وژاړي
راشي خالي لاس واړه ورمندې کړي
ټول په دروازه کې ورته وژاړي
دا هم غريو نيولی په سلگو کې وي
ښځه سره غرمه کې ورته وژاړي
وويل بېدار غريبي ورکه شه
زړه به دې سينه کې ورته وژاړي

ښاغلي ستوري نه يواځې دا چې د غم او درد ويرجنې نغمې



غړولي او حماسي شاعري يې کړې، د مينې او رومان د رباب رنگين تارونه يې هم ترنگولي او د يار، هار، چنار او ستار مترنم خيالونه او سندريز احساسات يې هم په شاعرۍ کې موندلای او لوستلای شو.

د زړونو پيوستون ته مې يو تار ساتلی دی
د مينې ترنم ته مې سيتار ساتلی دی
دا ستا په غاړه خوند کوي امېل ترې جوړومه
د سرو غميو ډک مې ورته هار ساتلی دی
ملگرو په يارانو کې يو يار زړه ته نژدې وي
نو ما هم په خپل زړه کې داسې يار ساتلی دی
راځه نن مې مېلمه شه د سوکړک، سبو لپاره
د يخ سيوري لپاره مې چنار ساتلی دی
اشنا هره وعده به پوره کومه ستا په مينه
خپل ځان مې ورته هر وخت کې بېدار ساتلی دی

ښاغلی بيدار د وخت او حالاتو انځورگري په پوره امانتدارۍ او ښه مهارت سره کړې، همدا لامل دی چې هر شعر يې لوستونکی تر ژور اغېز لاندې راولي او د شعر تر پايه يې له ځانه سره بيايي.

د ښاغلي بېدار د شاعرۍ ژبه ساده، عام فهمه او روانه ده ځکه خو لوستونکي يې په لوستلو کې له ستونزو سر نه مخ کېږي او همدا د يوه ښه شعر ځانگړنې هم دي، چې د ولس لپاره ليکل شوی وي او د ولس په ژبه ليکل شوی وي.

بېدار لکه د وخت د جرس په توگه خپل ولس ته د بېدارۍ غږونه کړي، چې د غفلت له خوبه پاڅېږي، ويښ شي، د

رڼاګانو او رنګونو لار خپله کړي او خپله ټولنه د ژوند د لوړتیا او پرمختګ ګلالیو پړاوونو ته ورسوي.

زه هیله لرم چې ښاغلی بېدار به د پښتو ژبې د ادبي کاروان د یوه هڅاند او تپاند لاروي په توګه هغه څه د کاغذ پر پاڼو وکاږي، چې د وخت اړتیا، د ولس غوښتنه او د خپلې خاورې او ټولنې د حالاتو او پېښو رښتیني عکاسي او انځورګري پکې شوې وي.

تمه ده چې ګران بېدار به تل د خپل ولس د ویښتیا او بېدارۍ لپاره همداسې خپل غږ پورته کوي او د خپلې خوږې پښتو د خدمت چارې به لا پسې تندې او ګړندۍ پر مخ بیایي.

زه د ښاغلي بېدار د شاعرۍ په رنګونو او رنګینیو له ډېرو لیکلو تېرېږم، ځکه تاسو د شعر او ادب مینه وال به ددې شعري ټولګې په پاڼو کې د نوموړي د فکر او خیال نه راټوکېدلې ویناوې او ادبي پنځونې پخپله ولولئ او د شاعر د فن او هنر جاج به واخلئ.

په تلو تلو کې ګران بېدار ستوري ته ددې کتاب (سندرې په سلګو کې) د چاپ مبارکي وایم او په ادبي سفر کې ورته د لا زیاتو لاسته راوړنو او او نوښتونو هیله کوم. خدای دې وکړي، چې سلګۍ ختمې او سندرې یې زمزمې شي.

بس همدومره

په ډېر درنښت

**امان الله نصرت**

۲۰۲۰/۴/۲۶

پېښور



## نعت شریف

**زه غلام، دی مې اقا دی**
**محمد زمونږ پېشوا دی**

**په رب ګران، د رب حبیب دی**
**پیغمبر، د پاک الله دی**

**جهالت تورو تیارو ته**
**محمد نُور او رڼا دی**

**دی په ټولو اولین دی**
**اخرین هم په دنیا دی**

**دې تمام انسانیت ته**
**لوی رهبر او رهنما دی**

**پاک قرآن پرې نازل شوی**
**پاک له هر چا نه هم دا دی**

**په نبیانو کې بېداره!**
**دی خاتم الانبیا دی**

## شور

له شوره تنګ يمه له شوره تښتم لرې ځمه
زړه مې خفه دی له خپل کوره تښتم لرې ځمه

په دې وطن کې زورواکي ده عدالت نشته دی
ددې ظالم له ظلم زوره تښتم لرې ځمه

دلته ريشتيا ويل ګناه ده په ريشتيا دې وژني
د دروغجن سړي له توره تښتم لرې ځمه

غريبي ورکه کړې سړی کړي له ملکونو فنا
په مزدورۍ پسې له موره تښتم لرې ځمه

غُربته! تا مې زندګي راله په پور واخيسته
د خان صاحب له درانه پوره تښتم لرې ځمه

**بېداره** ورور يې کړ تربور راته په دې کلي کې
ځکه خو زه هم له خپل وروره تښتم لرې ځمه



## بې وسي

بيا مې وليدل ګلونه په لمبو کې
رنګ يې تور وو د بارودو په لوګو کې

ښه په ځير مې ورته وکتل خو نه وو
د خوښۍ انداز يې سپينو اننګو کې

د خندا زور يې په شونډو پاتې نه وو
صرف موسکۍ به شوه د سترګو په لېمو کې

د رباب هم هاغه سوز په ډډ کې نشته
درد يې نشته د تارونو په نغمو کې

بېګاه دواړه تر سهاره **بېدار** ناست وو
شپه مو تېره کړه يو بل ته په کتو کې

# د اوښکو امېل

له درده مې سلګو ته څنځيرونه جوړوم
له سترو اسويلو مې ټکورونه جوړوم

په مخ مې راروانې شي ګرېوان سره جرګه شي
د اوښکو له قطرو نه امېلونه جوړوم

غمونه دي چې ما سره د ژوند په لار روان دي
سفر نه د بېلتون يې تدبيرونه جوړوم

په شګو کې مزل دی څکه نه رسي منزل ته
هوا کې نه جوړيږي محلونه جوړوم

د وران وطن په بيا بيا ورانولو نه مړيږي
ددغه هېواد پلورو انځورونه جوړوم

دهر پښتون د ژوند داستان **بېداره** د ژوند راز دی
له دې قيصو نه ژوند ته کتابونه جوړوم



# صبر او تحمل

کله به په ما کله په تا راځي
ژوند کې تکليفونه خامخا راځي

عزم ساته لوړ سينه دې لويه که
صبر ته خوښي خو په ريشتيا راځي

کله کله ژوند څنې بې زاره شم
خپلې بې وسی پورې ژړا راځي

بيا يې ښه خواري نن په ځان کړې ده
څکه خو مې مينه په اشنا راځي

خوی دې د ماشوم پخپله لويه شوې
خداېږو که مې تانه اوس حيا راځي

چا ويل **بېداره** چې بيا نه راځي
اوس لاړه غوسه کې سبا بيا راځي

# ترانه

## (پښتو کول په کار دي)

خوب نه راپاڅه نور له خوبه ویښیدل په کار دي
پښتو کول په کار دي
د امن غږ ټولې دنیا ته رسول په کار دي
پښتو کول په کار دي

خوب نه راویښ به شې پښتونه
د جهل مات که زنځیرونه
بل که د علم مشالونه
په علم، زده کړه دا تیارې رڼا کول په کار دي
پښتو کول په کار دي



چې لر او بر سره یوځای شي
پښتون به هله راژوندی شي
د مینې جوړ به یې کورګی شي
تربګني پرېږدئ اوس خپل ورور راخپلول په کار دي
پښتو کول په کار دي

وخت دی ! راپاڅئ روانېږئ
هله منزل ته به رسېږئ
په نیمه لار کې مه ودرېږئ
اوس په ریشتیا د باچاخان په قدم تلل په کار دي
پښتو کول په کار دي

ناپوهه نه دی ډېر هوښیار دی
پښتون ویده نه دی «**بېدار**» دی
لا د خپل وخت په انتظار دی
دا ستاسو سترګو نه پټې لېرې کول په کار دي
پښتو کول په کار دي

★ ★ ★

## سپین سترګي دلالان

دا څه دي او زه څه وینمه بیا په دې وطن کې
زه تا راکاږم ښپو نه او ته ما په دې وطن کې

سپین سترګي دلالان سپینه جامه کې راپسي دي
زما او ستا د سر کوي سودا په دې وطن کې

د هر کور نه اواز د ویر او ساندو پورته کیږي
چې کله به ختمیږي ویر ژړا په دې وطن کې؟

خالقه ته قبول کاندې دا سوال د افغانانو
د هر چا په خوله راولې خندا په دې وطن کې

داڅوک دي چې جنګ غواړي او په جنګ کې ګټې غواړي
لوی خدایه جنګ پرست کاندې تباه په دې وطن کې



دې ګران افغانستان ته لاس کړئ پورته دعا وکړئ
چې سوله امن راشي په رشتیا په دې وطن کې

دا وګورئ دا څوک دی ؟ نه افغان نه مسلمان دی
پېژند یې معلوم نه دی شو رسوا په دې وطن کې

پښتون به راویښیږي داسې ښکاري چې **بېدار** شو
خپل حق به درنه غواړي خامخا په دې وطن کې

* * *

## قطعه

یو تصویر پرې جوړوم یو تصویر پرې ورانوم
کرښې را کاږم په مځکه خپل نصیب معلوموم

زما نه وځي له زړه نه تل په زړه کې دې ساتم
ته مې وباسه له زړه نه خو زه تا نه هېروم

# کابل

د جانان د اوربل ګل يې ته به څنګه ښکلی نه يې؟
د وياړونو ښار کابل يې ته به څنګه ښکلی نه يې؟

پښتانه درکې اوسيږي لنډه غر درته ګواښيږي
د بابا د پټکي ول يې ته به څنګه ښکلی نه يې؟

چې چا بد درته کتلي نو يې سترګي دي وتلي
هر قابض ته سم اجل يې ته به څنګه ښکلی نه يې؟

مېړني دي پيدا کړي ډېر غازيان دي زېږولي
په ښارونو کې اتل يې ته به څنګه ښکلی نه يې؟

ستا د غېږې په ورشو کې عجيبه شانته سکون دی
د ښايست چپه کاکلُ يې ته به څنګه ښکلی نه يې؟

دشر خوښوشرمښانوله داړلودې خدای خلاص که
د **بېدار** زړه او ګوګل يې ته به څنګه ښکلی نه يې؟



# وجدان سره خبرې

کله د خپل زړه کله وجدان سره خبرې کوم
خوب کې کله کله د جانان سره خبرې کوم

ځان سره ګونګېږم، ګوتې شمارمه او سر خوځوم
سم د لېونو غوندې ګريوان سره خبرې کوم

خيال او تصور کې مې رنګينه دنيا جوړه کړم
الوځم هوا ته د اسمان سره خبرې کوم

ډېر مې ارمانونه دي خو يو هم پوره کيږي نه
زه په تنهايی کې د ارمان سره خبرې کوم

ستا لپاره ځان وژنم او ستا لپاره ژوند کوم
ستا لپاره ياره د خپل ځان سره خبرې کوم

خوب نه **رابېدار** شومه او وينې ناست تر سبا يمه
هسې بس د خپل زړګي نادان سره خبرې کوم

# طمع

د یو وچ تالاب تر څنډې د اوبو په طمع ناست یو
خپل زمونږه نه پردي شول د پردو په طمع ناست یو

دغه شین لوګی چې خېژي اور مو واچوو خپل کور ته
ورته ګورو چې اور واخلي د لمبو په طمع ناست یو

عجیبه شانې رواج دی خپل عزیز نه تربور جوړ کړو
په مورچه کې ورته تل یې د ویشتو په طمع ناست یو

خلک ژوند کوي لګیا دي هېڅ له جنګه خبر نه دي
مونږه جنګ په بیه اخلو د جګړو په طمع ناست یو

که هر څومره یې کړو جمع خو مو سترګې نه مړیږي
تل به غل یو د بل جېب ته د پیسو په طمع ناست یو

د خپل بار د اخیستلو هېڅ توان په مونږ کې نشته
خو د بل د اوږو بار د اخیستو په طمع ناست یو

چاته وایې؟ څوک یې اوري؟ څوک نه وینې **بېداره**؟
عمل خدایږو که پرې وکړو، اوربدو په طمع ناست یو



# د ظلم افسانې

د درد او ظلم افسانې مو په ذهنونو کې دي
د وېرې ترهې حادثې زموږ په زړونو کې دي

زمونږه ټوله زنده ګي دهشتګردۍ وخوړه
د ژړا، چغو انګازې مو په غوږونو کې دي

په وینه څه خدایږو په خوب کې ترې هم نه خلاصیږو
داسې بې شمېره اندېښنې مو په خوبونو کې دي

له خپله لاسه مو دې خپل کلي ته اور واچوه
جنګ لېوني کړو اوس جګړې مو په کورونو کې دي

ژوند به وي ښکلی خو د ژوند په مزه نه پوهېږو
د ژوندون بدې خاطرې مو په خیالونو کې دي

**بېداره**! هېڅوک د خوښۍ سندرې نه وايي اوس
سندرې شته خو زمزمې یې په دردونو کې وي

# ورک منزل

د ورک منزل په لاره، مو دا ورک وجود روان دی
ورځمه لټوم یې، چې ورک شوی رانه ځان دی

هدف مو معلوم نه، دي خو په منډو باندې سریو
د ورکو پسې گرځو او همدا زموږ گوزران دی

په لافو کې چې راشو ، نو په خپل ځان نه پوهیږو
له ځمکې په هوا شو ، ښکته کړی مو اسمان دی

د دین نه خبر نه دي او هویت ځنې منکر دي
نو بیا هم ورته وایو چې افغان او مسلمان دی؟

چې دا ډیموکرسي که زورواکي ده انصاف نشته
په هر ځای کې اختیار د جنگسالار او قوماندان دی

په خوله وایي پښتون یم اوپښتو مې سکه مور ده
همدغه د پښتو دشمن ، پښتو باندې تاوان دی

**بېداره** چې د جنگ نښه دنیا کې پاتې نه شي
همدغه مې ده هیله او همدا زما ارمان دی



# ائینه

ائېنه ښه ده ځومره خیال ساتي
چې پټ رازونه د وصال ساتي

ټوټه ټوټه د ټول بدن انځور مې
څه په هنر او په کمال ساتي

د مخ گردونه مې هم نه پټوي
دا څه چې یم دغه مې حال ساتي

که دې په نیت کې د غلا طمع نه وي
خدای به دې رزق تل حلال ساتي

**بېداره** تل یې په خپل زړه کې ساته
ځینې خبرې خلک سمبال ساتي

## د باچا خان یاد

کور او کلی ټول ټبر دې یادوي
پښتانه په سمه غر دې یادوي

ته د ټول پښتون باچا وې باچاخانه!
خپل پردي او لر و بر دې یادوي

لوی واړه د پښتونخوا درته سلام کړي
د افغان زړه او ځیگر دې یادوي

په ټول لوی افغانستان دې قدر ډېر دی
پېښور او هشنغر دې یادوي

ستا د ژوند فلسفه ټوله مثالي وه
د نړۍ هر یو رهبر دې یادوي

پښتانه به ستا په فکر **بېداریږي**
په حجرو ، جرگو اکثر دې یادوي



## چل ول

څوک د ماضي پورې نښتي څوک په حال غرېږي
هر څه بې سوره دي یو سور پکې په تال غرېږي

پرون یو کس د خپل تربور لپاره دام ایښوده
نن راټول شوي دي هر یو په دغه چال غرېږي

چې په خبرو کې له ځان نه بل هوښیار نه گڼي
چې فلسفې کاندي شروع درته ټول کال غرېږي

څه خو به وي چې نزاکت یې په خبرو کې دی
ښه ورته غوږ شوم اشنا بیا په څه کمال غرېږي

**بېداره** ستا خیالونه ستا سره خبرې کوي
اوس دې کوم خیال وایه خیالونو کې په خیال غرېږي

## د زړه زور

زړه خو مې شته خو د زړګي مې هغه زور نشته
سترګې لرم خو مې د دواړو سترګو تور نشته

ساده سړی یم خو د مینې په هر چل پوهېږم
د نفرت ځای ځکه زما د زړه په کور نشته

نه اوس مستي شته نه د جونو ټېل ماټېل په ګودر
چینار ولاړ دی ګودر شته د جونو شور نه شته

زړګی دې راکه په بدل کې درته زړه درکوم
پور دې په پور شو نور له دې دې په ما پور نشته

**بېداره** هسې پسې مه ګرځه ستومانه به شې
دردونه شته خو د دردمند زړګي ټکور نشته



## ژوند

ژوند د مینې یو انځور دی
ژوند د مینې یو اغاز دی
ژوند له مینې نه جوړیږي
ژوند په مینه تمامیږي
له نفرت سره ژوند اور شي
له خپل ژوند به دې زړه تور شي
زړه به ژاړي په سلګو کې
خو په خوله وایې ناکام دی
د ژوند شپې ورځې په شمار دي
ځکه مرګ د ژوند انجام دی
دا مو ځومره بدبختي ده
چې په خوند یې نه پوهیږو
د ژوند هرڅه راسره دي
خو په ژوند یې نه پوهېږو

## خورې قیصې

ستا د خولې ګوره اکثر قیصه خوره وي
له شروع نه تر اخر قیصه خوره وي

چې په پیغلو شي رنګین او ښکلی ښکاري
ځکه هر وخت د ګودر قیصه خوره وي

په سپرلي کې د تازه هوا په موج کې
شنو پټو کې د چکر قیصه خوره وي

د چینار د درانه سیوري په لمن کې
مازیګر د مازیګر قیصه خوره وي

د **بېدار بصیر** له خولې نه یې چې اورم
باور وکړه سراسر قیصه خوره وي



## د سترګو جنګ

چې دا ستا د سترګو جنګ کې محاصره شوم
د عجیب حُسن او جمال په ننداره شوم

دومره ډېر تاوده یادونه رانه تاو شول
چې د ژوند په خاطرو کې خاطره شوم

د هر چا د نظر سترګې راپسې شوې
په یو دم خوشحالي راغله بیا خفه شوم

د وختونو د کاروان پسې په منډو
ستړی ستړی شوم دمه نه شوم دمه شوم

محبت کې مې د اور سره ګوزران دی
د پتنګ غوندې پرې سوځمه لمبه شوم

نیمې شپې پورې خوب نه راتلو **بېدار** وم
ستا یادونو سره لوبو کې ویده شوم

## په هوا خبره

حــق بــه منــم خــو نــاروا خــبره څنــګ ومنــم
دا بــې دليلــه پــه هــوا خــبره څنــګ ومنــم

بس په وعده يې اعتبار نشته پوره يې نه کړه
اوس يې په دروغو خامخا خبره څنګ ومنم

لمر به په دوو ګوتو پټ کړي وايي توره شپه ده
سپين ته چې تور وايي نو دا  خبره څنګ ومنم

ستا به منم خو، که زما دې لږه هم واورېده
چې زما نه منې، نو ستا خبره څنګ ومنم

د کار خــبره پکــې نــه وه خــو مجلــس ګــرم و
تــه راتــه ووايــه چــې بيــا خــبره څنــګ ومنــم

چې بل ته کړي مسلې خپله پرې حملې کوينه
**بېــــداره** نــور د دې مــلا خــبره څنــګ ومنــم



## امتحان

ژوند راته مينه ښکاري ژوند راته ارمان ښکاري
ماتــه د ژونــد هــره لحظــه يــو امتحــان ښــکاري

ځـان پکـې وګـوره دا ژونـد د ائينـې پـه شـان دی
هر څوک ځان ويني پکې هر چاته خپل ځان ښکاري

چې ښه کوی نه شي نو بد چا سره هم مه کوه
ګټــه د بــدو نــه وي تــل پکــې تــاوان ښــکاري

ما سره سيوري په شان ګرځي مانه نه بېليږي
دا چې مې ډېر زيات تنګوي دا ماته پيريان ښکاري

زمــا د ســترګو لــه نظــر سره جــوړه روان دی
لکه تصوير راته په هر ځای کې جانان ښکاري

که اوس ريشتيا وايي نو هيڅ مې پرې يقين نه راځي
ځکه خبرو کې يې هر وختي ګومان ښکاري

**بېــداره** دا چې ځان افغان او مسلمان[1] نه بولي
نه مسلمان نه په ريشتيا راته افغان ښکاري

۱ چا چې د مسلمان او افغان د ليکلو مخالفت په پېژندپاڼه کې کاوه.

# جانان

ته چې راته هر څه وايې زه درته جانان وايم
ته راته دشمن وايه خو زه به درته ځان وايم

ته په خپل نفرت کې انتها ته رسيدلی يې
زه درته د مينې نه ځار، ځار شمه قربان وايم

ستا که دغرور نښه په سر باندې ختلې ده
زه په عاجزۍ درته زړګی وايمه، جان وايم

ته به مې بد رنګ بولې او مخ به رانه اړوې
زه درته د خپل ژوند د ښکلا د کلي خان وايم

ځان سره دې تل د خپل زړګي په کور کې ساتمه
زه لکه د ځمکې مخلوق تاته پاس اسمان وايم

ته به د **بېدار** په ارمانونو خاورې واړوې
خو زه به درته بيا هم د معصوم زړګي ارمان وايم



# انتظار

لارې يې ځارمه اشنا نه راځي
تللی په دې لار دی خو بيا نه راځي

سترې انتظار مې سترګې سپينې کړې
راشي توره شپه خو سبا نه راځي

زه خو يې د زړه په رنځ اخته کړمه
اوس مې د يو رنځ مسيحا نه راځي

سترګو کې مې اوښکې وچې شوې دي
هېڅ په يوه غم هم ژړا نه راځي

خوب خندا ده نښه د بېغمه ژوند
خو زه بېغمه نه يم خندا نه راځي

وینې توپوي زړه یې درد نه کوي
ترس خو یې بیشکه په چا نه راځي

مخکې به له ما جدا کېدلو نه
اوس خو یې سلام په هوا نه راځي

ما **بېداره** هسې ټوکو ټوکو کې
یار کړلو خفه خامخا نه راځي

✶ ✶ ✶

## د پردې خبرې

ساتلی مې په زړه کې وې خو هرچاته ښکاره شوې
خبرې د پردې وې اوس د هر سړي په خوله شوې

د راز خبره ګوره چې خپل دوست ته هم ونه کړې
که وه دې کړې نو پوه شه چې دنیا کې ډنډوره شوې



## رښتیا خبرې

چاته به د چا خبرې ښې لګي
ماته خو دا ستا خبرې ښې لګي

نور مې څه پروا د بل چا نه شته دی
صرف چې په یو تا خبرې ښې لګي

څوک چې چاته وخاندي څه ووایي
بس دا د خندا خبرې ښې لګي

راشه د مجنون نه لږ تپوس وکه
تل پرې د لیلا خبرې ښې لګي

دروغ نه مې زړه چوي نور یې مه وایه
ما باندې ریښتیا خبرې ښې لګي

تا چې ورته غوږ کې پټ څه وویل
دې باندې همدا خبرې ښې لګي

ما باندې **بېداره** یو سړی دی ګران
تل خو یې په ما خبرې ښې لکي

## سر زوري

بې قانونه سر زورۍ ته زه حېران شوم
د بې شرمو بې شرمۍ ته زه حېران شوم

لنډغر په ښار کې خلاصې تنۍ ګرځي
د چارواکو بې وسۍ ته زه حېران شوم

د غريب سړي اواز اوريدای نه شي
د زور واکو زورواکۍ ته زه حېران شوم

لوڅکان يې د وسلو سره ګډا کړي
د څو تنو لوفرۍ ته زه حېران شوم

د وطن د ورانولو اعتلاف کې
د شرخوښو رهبرۍ ته زه حېران شوم



قهرمان راته د لوی غدار نه جوړ کړي
د بد مستو دې مستۍ ته زه حېران شوم

د هېواد ملي بيرغ چې په اور سوځي
د بد نيتو دشمنۍ ته زه حېران شوم

جنګ سالار او شر پسند يې کړه په نخښه
د **بېدار** دې شاعرۍ ته زه حېران شوم

* * *

## مايوسي

انحراف له زندهګۍ نه نور څه نه دی
بس له غمه تښتېدل دي مايوسي ده

دا زما په مخ چې خړ ګردونه وينې!
د غربت نخښې پکې دي، بېوسي ده

## د ضمیر اواز

که دې واورېده اواز د خپل ضمیر
په تدبیر به دې بدل کړې خپل تقدیر

لا ترخو به د غفلت په خوب ویده یې؟
لا ترخو به لټوې د خوب تعبیر

لا ترخو به د جنت او دوزخ مېنځ کې
لا جواب یې د انکیر او منه کیر

لا ترخو به له دې سِحره ازادېږې
لا ترخو به یې په بند کې ددې پیر

لا ترخو به یې بندي د جبر جېل کې
لا ترخو به یې ازاد ژوند کې اسیر



لا ترخو به یې د ځان سره په جنګ
لا ترخو به یې اخته د ځان په ویر

لا ترخو به ځو ټوټې پروت یې پښتونه
لا ترخو به یې ذلیل، فقیر، زهیر

خورې به ټول عمر ډغرې پښتون ګله!
چې ته نه اورې خبرې د **بصیر**

✶ ✶ ✶

## درد

ماته خندا نه راځي نه یم د خندا ملګری
ژړا زما ملګرې، زه یم د ژړا ملګری

درده را غاړې وځه زړه مې که ټکور په اوښکو
نه په دوا جوړېږم، نه یم د دوا ملګری

## محبت

ستا زړه هم درزېده او زما زړه هم درزېده
نه زړه زما خبر وو نه ستا زړه پرې پوهېده

د زړونو په دې لوبه کې عجیبه تماشه وه
اغاز د محبت وو دواړه زړونه خوږېده

په سترگو یې خبرې کړې په خوله باندې به چوپ وه
تاثر د حیرانۍ به یې رخسار کې ځلېده

دا مینه ده چې هر څه ورته بُت او یا دېوال شي
خپل سیورې ورسره وو او له سیورې ویرېده

په کوم مرض اخته شو چې روان وې گوتې شمارې
خندا خندا کې یو دم به په چغو ژړېده

**بېداره** دابه مینه وې که ته پرې نه پو هیږې؟
چې ټول بدن بې خوده دې بې واره رپېده



## بې پروا

چې د خپل ځان، واک او اختیار نه لري
هغه سړی خود په چا کار نه لري

په څه به جوړ کړي امېلونه د گل
چې ستنه وي ورسره تار نه لري

اوس یې د کلي مزې واخیستلې
اشنا پروا ځکه د ښار نه لري

سروه به جگه وي په ټولو ونو
لکه گڼ سیورې د چینار نه لري

زما د ژوند د تنهایۍ ملگرې
گوتې لري خو اوس سېتار نه لري

کلونه وشو چې یې مخ نه وینم
وعدې یې دومره شوې چې شمار نه لري

د منفي ذهن وي منفي سوچونه
دغه عادت شُکر **بېدار** نه لري

# انسان

مظلوم همدا انسان دی او ظالم همدا انسان دی
جاهل همدا انسان دی او عالم همدا انسان دی

قاتل دی هم مقتول دی هم دانا هم ډېر ناپوه دی
شاګرد هم دا انسان دی او معلم همدا انسان دی

کنجوس دی په زړه سخت دی وېره نه لري له خدایه
سخي هم داانسان دی او حاتم همدا انسان دی

چې کار ترېنه خطا شي وارخطا شي او حېران شي
خو بیا هم په خپل ځای باندې قایم همدا انسان دی

د جرم نه ځان ساتي خو په هر جرم کې ګیر وي
صادق دی هم امین دی خو مجرم همدا انسان دی

انسان ته انسانیت ګوته په غاښ شولو **بېداره**
ټوپک یې په اوږه، دوست د قلم همدا انسان دی



# حسرت

چې ویاړ مو د پښتو وو ټول ځوانان هم رانه لاړه
چې سر مو د شملو وو ښه مشران هم رانه لاړه

د فکر دروازې مې ورته پرانیستې چې راشي
په ذهن کې ساتلی بندېوان هم رانه لاړه

یو هیله وه چې ټول عمر کې کله پوره نه شوه
د ژوند په دې ارمان کې خپل ارمان هم رانه لاړه

شاعر یمه نو ځکه شاعران راباندې ګران دي
خواږه خواږه د سر څو شاعران هم رانه لاړه

قسم دی چې د زړه نه یې ذره ایستلی نه شم
په زړه کې چې دېره مې وو جانان هم رانه لاړه

**بېداره** اوس د درد ټکورولو مې څوک نشته
چې درد له مې درمان وو نو درمان هم رانه لاړه

## اوس مې نه پېژني

رانه بدله يې کړه لاره اوس مې نه پېژني
په جانان څه وشولو ياره اوس مې پېژني

چې ورته وګورم نو ځان راته پردی ښکاره شي
ريشتيا ريشتيا وايي هينداره اوس مې نه پېژني

چې يې اشنا سترګې نا اشناکړې زه حېران پاتې شوم
ښه راته ګوري څو څو واره اوس مې نه پېژني

د زړه په غوښو مې رالوی که وايي ته لا څوک يې
له کبره ګرځي کلانکاره اوس مې نه پېژني

راته ويل يې جدايي دې زه زغملی نه شم
ښه را نه بېل شو په کراره اوس مې نه پېژني

چې مې د غوړ لستوني ټول لکه مچان تاوېدل
اوس چې څه نه لرم **بېداره** اوس مې نه پېژني



## ځواني

لبره مستي په کار ده
ښه خوشحالي په کار ده

دا کله کله خندا
ژوند کې حتمي په کار ده

نفرت نه کرکه کول
اوس ضروري په کار ده

په يارانه کې اشنا
لبره ځواني په کار ده

مينه د ژوند ملګرې
بس لازمي په کار ده

خو يارانه لېونۍ
د لېوني په کار ده

ژبه کې ستا **بېداره**
لبره نرمي په کار ده

# مغرور

ما سره سم په لار روان و زه یې نه پېژندم
دا به مې سیوری د خپل ځان و زه یې نه پېژندم

راته یې وویل، اشنا چرته لیدلی مې یې
اوس چې جوړ شوی ترېنه خان و زه یې نه پېژندم

د ماشومتوب مې و ملګری اوس بدل بدل و
د ملک زوی وو لوی شیطان و زه یې نه پېژندم

په خیال کې راشي او په خیال رانه زړه وغواړي
خوب کې راغلی مې جانان و زه یې نه پېژندم

دومره صفت یې د ځان وکړو په تعریف تعریف کې
ددروغو سم لوی قهرمان و زه یې نه پېژندم

د **بېدار** زړه یې که خفه سترګې یې کړې بدلې
پخوا په ما باندې ډېر ګران و زه یې نه پېژندم



# ناداني

د ځیګر د بېماری نه ځیګر سوځي
بل له خپلې نادانی نه ځیګر سوځي

چې ګډوډ خوراک ور واچوې معدې ته
بس ددغه ګډوډۍ نه ځیګر سوځي

څه خبرو نه به تېر شي څه به واوري
د خبرو د سیالی نه ځیګر سوځي

ظلم کیږي وینې توی شي زړونه، نه چوي
د ظالم د بې حیسی نه ځیګر سوځي

چې دې کار ته وي ملا ماته څه به روغ شې
له دې ډېرې تنبلی نه ځیګر سوځي

سپور سکړوک دې اوس خوراک شولو **بېداره**
د غُربت او بې وسی نه ځیګر سوځي

# زما زړه

مانه ورک چې و په لاره زما زړه
تا مونده کړلو دلداره زما زړه

امانت مې زړګی تا سره موجود دی
امانت غوارم خپل ياره زما زړه

خبر نه يم چې په چا پسې کړېږي؟
چې وي هر وخت ناقراره زما زړه

چې د حسن ظاهري فريب کې ګېر شي
په ټوټونو شي بې شماره زما زړه

دا ستا نوم چې چرته واورمه له چانه
زړه نه وځي، بس دواره زما زړه

له هغې ورځې نه وينې ترې بهيږي
چې تا وګنډه بې تاره زما زړه

اوس نو څنګه زړګی صبر کړم له تانه
چې صبريږي نه **بېداره** زما زړه



# جدايي

که زه دې بېل کړمه له ځانه زما زړه به وچوي
ستا جدايي ده راته ګرانه زما زړه به وچوي

ما څو کلونه انتظار ستا د راتلو کړی دی
اوس راځه نه شې پښيمانه زما زړه به وچوي

د محبت لوظ دې پوخ ساته عمل پرې وکه
چې دوکه رانه کړې جانانه زما زړه به وچوي

ما يې ارمان د وصال کړی په ارمان ارمان کې
که مې پوره نه شوې ارمانه زما زړه په وچوي

بس راته مه وايه چې نور دې هيڅ پروا نه لرم
کړم دې خبرې پرېشانه زما زړه به وچوي

د زړه کتاب په هره پاڼه مې ستا نوم وليکه
ژوند نه تيرېږي بې له تا نه زمازړه به وچوي

**بېداره** دې کلي کې مينه خلک جرم بولي
که څوک په تا شو بد ګمانه زما زړه به وچوي

## د ځان دښمن

د ځـان دښـمن ځـان تـه پخپلـه بهانـې جـوړوي
ځـوک پـه بـم الوځـي ځـوک نـوې ترانـې جـوړوي

ته خو وې غل،زه به شم غل هغه هم غل وختو
منصف لګیا دی اوس انصاف ته زولنې جوړوي

پښـتونه! سـتا مـرګ یـې روا کړلـو پـه هـره فتـوا
د قتـل عـام دې رنـګا رنـګ نـوې فتـوې جـوړوي

دوینو رنګ چې دې وسور ، رنګ شوې په سروووینوکې
پـه وینـو سـور قاتـل د سرو وینـو نیـزې جـوړوي

عجیبه لوبه ده، سیاست دی ځوک پرې نه پوهیږي
ځوک کړي باچا، ځوک کړي وزیر ځوک یې قیصې جوړوي



## د یتیم ژړا

لـه ډېـره غمـه مـې پـه زړه بانـدې پولـۍ راشي
اوښکې دلۍ راشي
نـا امیـدي مـې پـه دې خپلـه یتیمـۍ راشي
اوښکې دلۍ راشي

ژونـد نـه بېـزاره شـومه، ډېـر ناقـراره شـومه
خندا تـه خولـه چـې جوړوم وړې سلګۍ راشي
اوښکې دلۍ راشي

جامـې ډوډۍ نـه لـرو پـه ښـپو ځپلـۍ نـه لـرو
ډېرزیات افسوس مې په دې خپله غریبۍ راشي
اوښکې دلۍ راشي

ځـیرې ګریـوان ګرځمـه، تـل پرېشـان ګرځمـه
کلـه ژړا کلـه خنـدا پـه بـې وسـۍ راشي
اوښکې دلۍ راشي

مونږ خوشحالي نه لرو، چاسره سیالي نه لرو
**بېـداره** اوس مې یقین ستا په شاعرۍ راشي
اوښکې دلۍ راشي

## قسم دی نه پوهیږو

د زغم طاقت مو نه شته بس اور اخلو لمبه کېږو
قسم دی نه پوهیږو
ټول ژوند مو تجربه دی او لا بیا تجربه کېږو
قسم دی نه پوهیږو

زموږ ځانله دنیا ده موږ له مخې باتوران یو
زاړه یو که ځوانان یو
په لافو کې چې راشو نه په ځان نه په جهان یو
زاړه یو که ځوانان یو
دنیا په ځای ولاړه ده او مونږ ترې مخکې کېږو
قسم دی نه پوهیږو

تل بل ته ګوته نیسو خو همېش موږ ملامت یو
خپل ځان ته خجالت یو
د خپلې ناپوهۍ په وجه تل بل ته حاجت یو
خپل ځان ته خجالت یو
د خپل ځان پورې خاندو اوله ځان سره جنګیږو
قسم دی نه پوهیږو



د تېرو پسې ګرځو حال راتلونکی مو برباد دی
ټول ژوند مو په فریاد دی
ته خپله نوم پیدا که ستا بابا خلکو کې یاد دی
ټول ژوند مو په فریاد دی
د پلار نیکه نامه که رانه لیرې شي ورکېږو
قسم دی نه پوهیږو

**بېداره** دا ویده قوم خو به یو ورځ راویښیږي
اخر به وپوهیږي
خپل ځان، جهان به پېژني سیالي به یې سمیږي
اخر به وپوهیږي
که پوه نه شو نو خامخا به وروسته پاتې کیږو
قسم دی نه پوهیږو

* * *

## قطعه

بې دلیله په امکان که څه کېدای شوی
مابه تل دا ستا خبرې اورېدلې

که په دوو ګوتو لمر هم پټېدای شوی
ما به هم ګوتې دا ستا په شان نیولې

## يادونه

درد سره په جنګ يم خوب مې وتښتېد
ستا په تهمت رنګ  يم خوب مې وتښتېد

سترګو کې مې ټول خمار راجمع شول
زه نشه بې بنګ يم خوب مې وتښتېد

سپين ښکلي بې غمه خپل خوبونه کړي
تور لکه لونګ يم خوب مې وتښتېد

ستا يادونه ټول جرګه جرګه راځي
هره شپه ترې تنګ يم خوب  مې وتښتېد

ستړی وخت کې ستړی ستړی ګرځمه
زه **بېدار** ملنګ يم خوب مې وتښتېد



## خاين

د وخت په بدلېدو سره بدل زما مراد شي
چې نه مې يادوي نو هم هغه راته راياد شي

د مينې اندازه به يې د دې نه درته لګي
چې ويې ګورې مخ ته او زړګی دې پرې اباد شي

جاهل چې دې قاضي شي او قاتل دې څنور شي
کافر به درنه جوړ کړي او روا په تا جهاد شي

وطن چې يې په ډېره بې شرمۍ خراب تراب کړ
هماغه قهرمان شو او اتل به د هېواد شي

انصاف ګوته په خوله شو او د حق خبره ګونګه
خاين چې دې رهبر شي زنده ګي به دې برباد شي

چې تور پکې سپينږي اوسپين سل رنګه تورېږي
مظلوم به پکې بند شي او مجرم پکې ازاد شي

**بېداره** چې له بېخه يې بنياد کچه او سپک وي
هغه مانړۍ نړېږي چې کمزوری يې بنياد شي

# ښکلې سترګې

سترګو کې مې ستا سترګې نیولي دي
سترګې دې قسم دی بلا ښکلي دي

یو ځل راته مړه وګوره مړ به شم
ډېر دې په دې مړو کتو وژلي دي

تا پسې جبې مې له پخوا نه وه
تا پسې مې یاره ډېر ژړلي دي

سر د پاسه سر شته دا به هم منې
ډېر ښکلي شته ستا نه نازولي دي

ګوره اشنا دومره غرور مه کوه
څوک چې بره تللي رالویدلي دي

اور د محبت دننه زړه سېځي
مینې داسې ډېر زړونه سېځلي دي

ژوند د مینې نوم دی که پوهیږې څوک
دا مې د **بېدار** نه اوریدلي دي



# نه راځې

نه راځې اشنا مې خوا له نه راځې
اوس په ناز ادا مې خوا له نه راځې

مانه چې به هېڅ جدا کېدلو نه
ګوره په ریشتیا مې خوا له نه راځې

زه ورپسې هر وخت لېونی ګرځم
دا لېونی بیا مې خوا له نه راځې

زړه یې زما زړه ځنې جدا کړلو
ساه مې وه خو ساه مې خوا له نه راځې

چل مې د خوښۍ او خندا هېر شولو
ژاړمه خندا مې خوا له نه راځې

زه **بېدار** یې نه شمه وېستی له زړه
هاغه بې پروا مې خوا له نه راځې

## پام کوه

یار سره ناکام کوه او پام کوه
زړه یې ساته زړه ته احترام کوه

چرته چې د ننګ غیرت خبره وي
ذکر یې تل د پښتون قام کوه

ما باندې چې ګران دی ستاسو کلي کې
هر سهار زما ورته سلام کوه

پرېږده چې خمار مې په نشه مات شي
کله کله ست خو د یو جام کوه

هر کار چې کوې **بیداره** مخکې ترې
خیال ساته او سوچ پرې ګام په ګام کوه



## پېوستون

د زړونو پېوستون ته مې یو تار ساتلی دی
د مینې ترنم ته مې سیتار ساتلی دی

دا ستا په غاړه خوند کوي امېل ترې جوړومه
د سرو غمیو ډک مې ورته هار ساتلی دی

ملګرو په یارانو کې یو یار زړه ته نژدې وي
نو ما هم په زړګي کې داسې یار ساتلی دی

همدغه یې فطرت دی ټک به ورکړي ورنه ځي به
لستوڼي کې چې هر چا ځان له مار ساتلی دی

قسم دی خپل رقیب به رانه خلاص نه شي په منډه
ټوپک مې انګریزی ورته تیار ساتلی دی

راځه نن مې مېلمه شه د سوکړک، سبو لپاره
د یخ سیوري لپاره مې چینار ساتلی دی

اشنا هره وعده به پوره کوم د زړه په مینه
خپل ځان مې ورته هر وخت کې **بېدار** ساتلی دی

# د وطن غم

نن خو یې زه سم لېونی کړی یم
بیا د وطن غم لېونی کړی یم

وژاړم که وخاندم؟ حېران یمه
ژوند مې په یو دم لېونی کړی یم

شمارم یې وعدې خو پوره کیږي نه
دروغ وایي صنم لېونی کړی یم

نه درځمه زړه تړې صبرومه نور
یاره ستاسو چم لېونی کړی یم

مه لیکه **بېداره** داسې خوږ غزل
ستا قلم قسم لېونی کړی یم



# استاد /ښوونکی

چې تیارو ته بل مشال دی نو استاد دی
چې تصویر زما د خیال دی نو استاد دی

چې د هر چا د خوبونو لوی تعبیر دی
له هر چا چې بې مثال دی نو استاد دی

دا چې هر څوک دې مقام ته رسېدلي
چې د چا د لاس کمال دی نو استاد دی

تل د علم په گانه شاگرد سنبال کړي
چې قابل د لوی جلال دی نو استاد دی

روشني یې په **بېدار** هم راخوره ده
چې هم ستوری هم هلال دی نو استاد دی

## د یادونو سفر

ته به مې هېر کړې خو له مانه هېریدلی نه شې
د زړه په کور کې دې ساتم ورنه وتلی نه شې

ته به مې هم ساتې د زړه په کور دننه اشنا
زما د تن سیوری له ځان نه بېلولی نه شې

ستا د یادونو د سفر سره ملګری یمه
کاروان د مینې په شا بېرته رانه تللی نه شې

ژوند یوه داسې معمه ده څوک پرې نه پوهیږي
د ژوند بازار کې په سکون سودا کولی نه شې

د نغمه‌ګر حسن ښکلا، دنیا په سر اخیستې
**بېداره** ګیر شوې اوس له دې دامه وتلی نه شې



## مینه او نفرت

له مینې نه منکر چې وي نفرت به خوښوي
شرخوښي چې شر غواړي شرارت به خوښوي

د ژوند څنې بې زاره همېش مرګ غواړي له خدایه
چې بوج په زنده ګی شي نو قیامت به خوښوي

چې تل په مینه ژوند کړي او له هر چا قربانیږي
نفرت نه به نفرت کړي محبت به خوښوي

چې خپله قدرمن وي نو د بل قدر به تل کړي
عزت چې په چا ګران وي نو عزت به خوښوي

قسم دی که خاېن سړی زمزمو باندې وینځې
قدرت چې لاس ته ورشي نو خیانت به خوښوي

چې پت، ښېګړه، توره او مېړانه یې لباس وي
پښتون چې وي **بېداره** نو غېرت به خوښوي

# چې بوډا شي

تل له ځان سره گونیږي چې بوډا شي
بس په نه څه خفه کیږي چې بوډا شي

د ماشوم په شان یې هر څه سره کار وي
ځکه ډېر ډېر غوسه کیږي چې بوډا شي

کله زوی ځنې خفه کله اینگور نه
خپلې ښځې ته گوریږي چې بوډا شي

خپل لمسي به یې په ولیو تل سواره وي
بل ماشوم یې نه خوښیږي چې بوډا شي

په ټول عمر کې لالچ یې کړی نه وي
لالچي شي کنجوسیږي چې بوډا شي

چې ناجوړه شي له کټ نه پاڅیږي
تش فریاد کوي ټوخیږي چې بوډا شي



دعاگانې یې په هر کار کې عادت شي
په ښېرو هم نه مړېږي چې بوډا شي

خپل همزولي چې راگیر کړي چرته لار کې
دواړه یو بل نه ځاریږي چې بوډا شي

د ځوانۍ قیصې به یو بل ته په خوندکړي
تېر وختونه یې یادیږي چې بوډا شي

د مشرۍ قدر یې هر چا باندې ډېر شي
برکتونه یې زیاتیږي چې بوډا شي

ځینې شي د کور باچا پوره واکمن شي
ځینې کور نه شړل کیږي چې بوډا شي

په ځوانۍ چې څوک خدمت د مشر وکړي
د هغې هم خدمت کیږي چې بوډا شي

بوډاگان درنه خفه نه شي **بېداره**
خو عزت یې لا ډېریږي چې بوډا شي

* * *

# نن مې ډېر یادیږي

تا چې پرې ایښی زموږ چم دی نن مې ډېر یادیږي
را سره هر وخت دا ستا غم دی نن مې ډېر یادیږي

تاته به خدای خبر چې زه کله یادیږم که نه
زما نه هیر نه یې قسم دی نن مې ډېر یادیږي

ستا دلاس نښه ده نو ستا نامه پرې هر وخت لیکم
جیب کې مې ستا د لاس قلم دې نن مې ډېر یادیږي

د یو تصویر سره خبرې کوم لوبې کوم
وایم همدا زما صنم دی نن مې ډېر یادیږي

داچې **بېدار** دې زړه نه یو شیبه ایستلی نه شي
دا هم د پاک الله کرم دی نن مې ډېر یادیږي



# سوله

مونږ کړی د کلونو انتظار چې سوله راشي
ګلونه غوړوو ورته په لار چې سوله راشي

خورې دي اوازې چې رراوانه ده راځي
دې سولې ته د هر چا دی تلوار چې سوله راشي

جنګونو کې تاوان دی او که ګټه ټول پوهیږي
شړو به په شریکه جنګ سالار چې سوله راشي

هغه چې جنګ کې خپلې ګټې نغاړي اوجنګ غواړي
ای خدایه نو له جنګه یې کړې بېزار چې سوله راشي

نور بس دی وینې توې شوې قتل عام هره ورځ کیږي
راویښ شئ نور له خوبه **رابېدار** چې سوله راشي

## د درد شېبې

زه چې دا خپل غمونه شمارم خوب به څنګه راشي
چې هره شپه په خوب کې ژاړم خوب به څنګه راشي

ماچې شوګیر کړه شپه نو ته مې خواله نه راتللې
ته ویده کېږه زه اوس لاړم خوب به څنګه راشي

د امن امن دعا خوب کې بې اختیاره راځي
همدا دعا له ربه غواړم خوب به څنګه راشي

خپل خومې خپل وو خو داستا غم مې په سر واخیسته
اوس چې هر څه وي زه یې ګالم خوب به څنګه راشي

**بېداره** نور په دغه ښار کې زندګي ګرانه شوه
کډه تړم ښپي به ترې نغاړم خوب به څنګه راشي



## بې عمله خبرې

خبرې ډېرې ښې وې خو عمل ورپکې نه وو
ښکاره څو مسئلې وې خو هیڅ حل ورپکې نه وو

دا ښار دغسې نه وو دغه ټول کلي اباد ول
اوس ښار او کلي شته اباد محل ور پکې نه وو

چا یو څه چا به بل څه ټپه وکړه په محفل کې
قسم هر چا کوه، قسم خوړل ورپکې نه وو

هدف یې معلوم نه وو بس په پټو سترګو تلل وو
مزل باندې شو سترې خو منزل ور پکې نه وو

عجیبه شان حالت وو هر سړي توبې ایستلې
ماحول له غم ډک وو خو زړل ورپکې نه وو

د دوه سترګو په جنګ کې سترګې یو بل ته څلور وې
کتل خو یې یو بل ته خو کتل ورپکې نه وو

**بېداره** سندریز بنډار په درز کې ښه روان وو
ټپه ټپه ماحول وو خو غزل ور پکې نه وو

## د مینې اظهار

بیا په څه داسې غوسه شوې بس په دې یوه خبره
مخ دې واړوه خفه شوې بس په دې  یوه خبره

چې اظهار مې درته وکه صرف د خپلې پاکې مینې
رنګ دې والوت تکه سره شوې بس په دې یوه خبره

چې جانان مې درته ووې نو پښتو دې راپه یاد شوه
سم دواره پښتنه شوې بس په دې یوه خبره

دا خبره دومره نه وه لکه تا چې ترې غر جوړ که
اور دې واخیسته لمبه شوې بس په دې یوه خبره

ما **بېدار** لارې څارلې ستا راتلو ته انتظار وم
نیمې لارې نه ستنه شوې بس په دې یوه خبره



## کله کله

زړه زما ډېر وار خطا شي کله کله
دې سودا ته مې سودا شي کله کله

همیشه به یې تندی وي ګونځې کړی
چرته کال کې په خندا شي کله کله

ائینه کې د خپل حُسن په کتو یې
حېراني یې په مخ را شي کله کله

چې دا ستا د ژوند غمونه پرې کمېږي
ستا غمونه دې زما شي کله کله

باور وکه چې خُمار دې پرې ماتېږي
چې یو ګوټ پرې لږ سېوا شي کله کله

کوزیدل یې راته ګران ښکاري **بېداره**
نادیده چې په هوا شي کله کله

## چې غوسه شي

کله سپينه کله سره شي چې غوسه شي
حُسن لا يې يو په دوه شي چې غوسه شي

د کور لوښي به دالان ته راګوزار کړي
درز او دروز شي يوغوبمه شي چې غوسه شي

اننګو کې يې سُرخي په ګډېدو شي
يوه بل شان تماشه شي چې غوسه شي

چې نرۍ شانته موسکا سترګو کې وکړي
حياناکه پښتنه شي چې غوسه شي

دغه يو عادت يې ډېر زما خوښېږي
برستن راکاږي ويده شي چې غوسه شي



زړه د کلي ماشومانو باندې تش کړي
دروازه کې ورښکاره شي چې غوسه شي

په غوسه کې له هر چا نه "خطا" کيږي
عقل هوش يې بوساړه شي چې غوسه شي

د غوسې په.وخت ترې څان ساته **بېداره**
سر نه ښپو پورې لمبه شي چې غوسه شي

* * *

## پښتانه

مونږه غرور نه کوو خو مونږه يو مغروره خلک
چاته احتياج نه يو خو تل يو موږ مجبوره خلک

مونږه تل وياړو د نيکونو تاريخونو باندې
مونږه جنګونو کې يو ډېر زيات مشهوره خلک

## شاعر

شعر لیکي همیش په مصنوعي جانان
یو شاعر هم نه لري اصلي جانان

هر شاعر جانان له قلم ټینګ کاندي
هر غزل کې سم رسوا کوي جانان

څوک یې اننګي څوک یې زلفان ستايي
څوک یې نرۍ سترګې توروي جانان

نن ترې یو شاعر ځان لوګې کړی دی
ځان ترې په څو وار قربانوي جانان

یو شاعر ویل چې غوسه شوی دی
کله به غوسه، راکموي جانان



نه مني زما او دا ستا نه مني
بس په دروغو ځان مشغولوي جانان

ای شاعره غلی له جانانه شه
کال کې دې یو وخت نه یادوي جانان

اوس **بېداره** ته له جانان څه غواړې؟
ستا به شي که بل یار نه لري جانان

✶ ✶ ✶

## رښتیا، دروغ

څوک ریشتیا ویلی نه شي چاته دروغ ویل اسان دي
خلک وایې ریشتیا ښه دي خو ریشتیا ویل ډېر ګران دي

ته یې وایه ته پرې پوه یې تایې ښه چل دې زده کړی
په همدې عمل دې ګوره ټول یاران درسره وران دي

## خبرې

یـوازې دا نــه دی چــې ماپســې خــبرې کــوي
دنیــا لګیــاه ده د " دنیــا "پســې خــبرې کــوي

پلار د خپل زوی او مور د لور له لاسه سر ټکوي
ورور د خپل وررور خوری ، ماما پسې خبرې کوي

زمـوږ د کلي خلـک هـر چـا پسـې زړه تشـوي
هســې وزګار دي د باچــا پســې خــبرې کــوي

ټول عمر دروغ وایي ریشتیا یې هیڅ په خوله نه راځي
" قسم خواره " ټول په ریشتیا پسې خبرې کوي

جومات کې مونځ ورپسې وکړي بیا توبې وباسي
" ملا "په دوی ، " دوی " په ملا پسې خبرې کوي



دا خلک څوک زغملی نه شي په خبرو سر شي
دا یــې عــادت دی خامخــا پســې خــبرې کــوي

هغه چې تا به ورته ویل ډېرې خبرې مه کړه
خلک ترې خلاص شول اوس په تا پسې خبرې کوي

ته به د چا خولې ته برغولی جوړوې **بېــداره**؟
دا ډېرې خولې ډېرې هر چا پسې خبرې کوي

✶ ✶ ✶

## ګرمي

لمر راښکته شوی که اسمان راښکته شوی دی
زور دی د ګرمۍ د اور باران راښکته شوی دی

چا چې شوق د بام ختو په دې ګرمۍ کې کړی دی
بېرته ترې په چغو په لړزان راښکته شوی دی

## پېښور

یخ د سترګو مې نظر
پېښور پېښور
زما زړه زما ځيګر
پېښور پېښور

د رنګونو تاج محل دی
د ګلونو لوی محل دی
له ښارونو معتبر
پېښور پېښور

لري راز راز خوراکونه
مشهور یې کبابونه
هر خوراک یې خوندور
پېښور پېښور



پېښور د پښتون کور دی
د هر چا زړه پرې ټکور دی
پرې اباد دی لر و بر
پېښور پېښور

د **بېدار** د زړګي سر دی
پېښور خو پېښور دی
ښکلی ښکلی یې منظر
پېښور پېښور

✶ ✶ ✶

## نظر

د سترګو د نظر نه مې نظر وتښتېده
چې سر مو د لښکر و، هغه سر وتښتېده

په لافو یې دا ټوله دنیا ونیوه په لاس کې
چې وخت د عمل راغی، په هنر وتښتېده

## ګنډلې شونډې

شونډې مې ګنډلي دي څه نه وايم
ماچې څه ليدلي دي څه نه وايم

چوپه خوله بهتره له خبرو ده
څه ښه يې ويلي دي څه نه وايم

دومره ډېر غمونه دي چې څه وکړم؟
هر وخت مې ژړلي دي څه نه وايم

سپينه ورځ دې لاړه توره شپه کړله
سترګې مې تړلي دي څه نه وايم

خود به دې د خېټې حال خراب وي نو
تا چې څه خوړلي دي څه نه وايم



ډېر پسې په منډو منډو ستړی شوم
ښپې مې پړسېدلي دي څه نه وايم

خپله خوله کلا ده هم بلا ده نو
دا مې اورېدلي دي څه نه وايم

زه **بېدار** دې خپل شعر ته حېران شومه
څه چې مې ليکلي دي څه نه وايم

✶ ✶ ✶

## پردی

څوک د ژوند دپاره ژوند کوي ژوندی شي
څوک زما په شان بې سده، لېونی شي

څوک د قام او د وطن مينه کې رنګ شي
څوک د خپل قام شي دشمن ورنه پردی شي

## په هوا خبرې

څومره چې ماته دې زما خبرې ډېرې وکړې
دومره مې هر چاته داستا خبرې ډېرې وکړې

تش په خبرو يو روان عمل کې هيڅ نه کوو
هر چا په باد او په هوا خبرې ډېرې وکړې

د خلکو مخ کې يې څه نه ويل توبې يې ويستې
ماسره ځانله يې تنها خبرې ډېرې وکړې

څه چل خو وو څه يې ويل خو وو سلګو نيولې
په چوپه خوله يې په ژړا خبرې ډېرې وکړې

ما ورته ويل خبرې مه کوه چې ستړې دې کړم
هغې د مخې په يو ساه خبرې ډېرې وکړې

**بېداره** نه يې مني ځان ورته هوښيار ښکاري ډېر
که هر څو تا ورته ريښتيا خبرې ډېرې وکړې



## جدايي

زه چې بې له تا ومه نو ښه ومه
ستانه چې جدا ومه نو ښه ومه

اوس هغه وختونو پسې ژاړمه
څه چې زه پخوا ومه نو ښه ومه

اخ د ماشومتوب لمحې مې يادې شوې
تل به بې پروا ومه نو ښه ومه

تا ويل چې بې له تا پوره نه يم
ما ويل چې ستا ومه نو ښه ومه

غم او اندېښنې مې پېژندلې نه
مست وم په خندا ومه نو ښه ومه

زړه به مې راتنگ شو گڼه گوښه کې
زه به چې تنها ومه نو ښه ومه

یاد کې دې تر نیمو نیمو شپو **بېدار**
ویښ به تر سبا ومه نو ښه ومه

✶ ✶ ✶

## قطعه

چې اوس مئېن شو نو د یار په لوري منډې وهي
کلی یې پرېښوده د ښار په لوري منډې وهي

څه به دمه وکړي او څه به خوند له ژونده واخلي؟
چې یو غریب شي بل د کار په لوري منډې وهي



## تعبیرونه

پخواني دې څو یادونه راسره دي
یو څو ښکلي تصویرونه راسره دي

خپله تنده ماتوومه ښکلوم یې
ستا د سرو شونډو جامونه راسره دي

زه پښتون پیدا له لویو پرگنو یم
د غیرت په وخت قامونه راسره دي

که منزل ته رسېدل غواړې نو واوره!
په مزل کې تدبیرونه راسره دي

د واسکټ دننه جیب کې مې ساتلي
تا چې کړي تعویذونه راسره دي

راشه ستا په زنه خوند کوي جانانه
بنجاره یم شنه خالونه راسره دي

اوس مې ډکه څولۍ راوړله، له باغه
ستا د خوښې سرهٔ گلونه راسره دي

په ارمان ارمان وخت تېر شو پوره نه شول
د ژوند پاتي ارمانونه راسره دي

نن مې ټوله شاعري دا ستا په نوم کړه
د غزلو کتابونه راسره دي

تا چې هر یو خوب لیده ماته یې وایه
د هر خوب دې تعبیرونه راسره دي

چې رسوا درځنې یو نه شي **بېداره**
د اشنا د ژوند رازونه راسره دي

* * *

## چغه

یو رڼا راته د لیرې نه ښکاره شي
چې نزدې شم رڼا ورکه شي، تیاره شي

چې دردونه په سینه کې راایسار کړم
خولې له راشي یوه چغه شي، ناره شي



## ژوند

د باد په شان تیریږي هر ساعت یو امتحان دی
بس مړه ژوند روان دی
څوک ښه مزو کې ژوند کوي د چا ژوند سرګردان دی
بس مړه ژوند روان دی

دنیا په مخ روانه موږ ترې وروسته پاتې کیږو
قسم دی که پوهیږو
موږ جنګ کې ځان تباه که مونږ به ټول عمر ژړیږو
قسم دی که پوهیږو
د خپلې سرزورۍ په وجه مونږ کړی تاوان دی
بس مړه ژوند روان دی
په خېټه ماړه نه دي خو مستۍ نه په هوا دي
له هر څه بې پروا دي
له مینې نه منکر دي په نفرت کې لږ سپوا دي
له هرڅه بې پروا دي
همدا یې زنده ګي ده او همدغه یې ګوذران دی
بس مړه ژوند روان دی

ته ماته کوهی کنې او زه تاته ناست یم لار کې
که خدای دې راګوزار کې

ایستلي مې ده کنده درته ښه وختي سهار کې
که خدای دې راګوزار کې
زه تاته زړه کې ټګ یم ستا له ما سره کار وران دی
بس مړه ژوند روان دی

دا ځینې ځینې ګورم چې د دروغو شنه پړانګان دي
بس صرف مئېن په ځان دي
تعلیم هنر یې ډېر وي خو بیا هم لکه امیان دي
بس صرف مئېن په ځان دي
صفت کې چې د ځان راشي همدا لوی قهرمان دی
بس مړه ژوند روان دی

دا ځینې خلک وینم چې له خپل ژونده بې زار وي
هر وخت جنګ ته تیار وي
په نه خبره ځان له مرۍ نیسي او په قار وي
هر وخت جنګ ته تیار وي
نیتونه یې صفا نه دي نیمګړی یې ایمان دی
بس مړه ژوند روان دی

جذباتو کې چې راشي پښتانه شي ننګیالان شي
له مخې باتوران شي
سیاست نه خبر نه دي خو سیاست کې ډاکټران شي
له مخې باتوران شي
اسمان ځمکې ته ښکته کړي **بیدار** ورته حېران دی
بس مړه ژوند روان دی



# جنګ پرست

چې څوک جنګ غواړي او جنګ ته خوشحالیږي
دوی د جنګ په تاوانونو نه پوهیږي

خپل بچي او کورنۍ یې خوندي کړې
په پردو بچو یې زړه کله خوږیږي

چې نوکان جنګوي تل د پردي جنګ ته
دغه جنګ به یې تر کوره ورسیږي

په جنګونو کې پیدا په جنګ کې لوی شو
خدای خبر دی چې دا جنګ کله ختمیږي

میاندې بورې شولې پیغلې پکې کونډې
یتیمان په پلار او مور پسې ژړیږي

سوله ښه ده امن غواړمه له خدایه
بې له سولې د **بیدار** ژوند نه تیریږي

## یادونه

د ذهن په پردو کې مې نن لاندې باندې کیږي
یو څوک دی چې باران غوندې په زړه مې راوریږي

ما ویل زه به هېر کړمه ډېر به لیرې ترېنه لاړشم
چې چرته ځمه سم راپسې هلته رارسیږي

مالاس په تندي کېښود په تعظیم ورته ولاړ یم
اشنا دومره مغرور دی سلام نه اخلي تیریږي

په خوب او خیال کې تل راځي په ویښه راسره وي
یادونه یې یوه لحظه له ما، نه جدا کیږي

ته بیا کلي ته راشه چې د ژوند په خوږو پوه شي
واړه زاړه په مینه ټول له یو بل نه ځاریږي



ځوانان پکې ټپې کړي بوډاګان پکې چاربیتې
رباب، منګی حجره کې په مزه مزه غږیږي

چا ویل ملامت نه دي پښتانه دي زورور دي
چې بل سره جنګ ونه کړي له ځان سره جنګیږي

**بېداره** که ریشتیا وایم ریشتیا ویل ډېر ګران دي
په دروغو کلي وران شي چې ریشتیا څو رارسیږي

✶ ✶ ✶

## دردونه

چې دردونه مې سینه کې په سلګو شي
زه دا خپله سینه لوځه کړم ښکاره کړم

او دې خپلې بې وسۍ ته مې حېران شم
هر څه تېر کړمه په زړه څه به چاره کړم

## تصویر

کوشش کوم جوړوی نه شم د جانان تصویر
د خپل ارمان تصویر
کرښې وباسم نه جوړیږي مې د ځان تصویر
د خپل ارمان تصویر

انځور د مینې جوړومه
سترګې نرۍ ورتورومه
شونډې یې هم ور سرې کومه
ډېرو رنګونو کې له مانه، نه شي وران تصویر
د خپل ارمان تصویر



نن دا قیصه څه عجیبه ده
په خیال او ذهن مې خوره ده
ځان ته مې ایښې ائینه ده
په ائینه کې راته ګوري یو حیران تصویر
د خپل ارمان تصویر

د زړه په کور کې مې اوسیږي
سترګو کې تل زما غړیږي
یوه لحظه مې نه هیریږي
**بېداره** جیب کې ګرځوم د یو نادان تصویر
د خپل ارمان تصویر

✶ ✶ ✶

## د سر سودا

وایه تحفه کې درته څه درکړمه څه به غواړې؟
راسره صرف سترګو کې اوښکې او ژړا پاتې ده

ورپسې مه ګرځه سکون نه شته په دې بازار کې
دلته هر سر دی په خطر د سر سودا پاتې ده

## څه به کوو؟

د بل په کار کې به خپل کار وباسو څه به کوو؟
ورو ورو به زړه نه زړه ته لار وباسو څه به کوو؟

له جنګ نه تنګ یو امن غواړو سوله چرته لاړه؟
اوس یې راتلو ته انتظار وباسو څه به کوو؟

چې اور واخیست، ډډ یې وسوځېدله کاره ولوېد
بس نور له ستې دا چینار وباسو څه به کوو؟

دومره ډېر شوي دي چې ټول ښار یې په سراخیستی
دا خیرماران به له دې له ښار وباسو څه به کوو؟

که پښتانه په اتفاق نه شول ورکېږو به ټول
په خوله به چغه ټول په جار وباسو څه به کوو؟

چې سپینې سپینې راته وایي مونږ یې نه شو زغمی
ځئ چې له کلي نه **بېدار** وباسو څه به کوو؟



## منافقت

چې ریشتیا وایې ریشتیا به وژل کیږي
دروغ وایه چې ارام دې ژوند تیریږي

دلته هر منافق ځان فرښته بولي
صداقت په دې وطن کې نه چلیږي

د کم اصلو د جاهلو پکې راج دی
د اصیلو پکې شپه نه سبا کیږي

چې د ظلم د انجام پته یې نه وي
د ظالم له ظلمه هر سړی یریږي

چې یو کار پکې په غیر له رشوته نه شي
نو قانون صرف په غریبو تطبیقیږي

دلته چا سره منطق او دليل نشته
کړې خولې دي بس په سوک باندې سميږي

چا جوړ کړي ځانته دنګ دنګ محلونه
څوک غاصب شي د چا کور پکې ورانيږي

د لوټمارو، جنګسالارو، لنډغرو
د وسلو پکې ښکاره نماېش کيږي

پښتانه په خواره خوب باندې ويده دي
د **بېدار** په چغو کله راويښيږي

* * *

## منزل

د هدف په لټون ګرځو د کاروان سره روان يو
يا به رسو تر منزله يا به پاتې په مېدان يو

که يو موټی يو اواز شو نو منزل ته رسېدای شو
که يو نه شولو ورکيږو موږ به تل په وير د ځان يو



## د کابل وير

خدايه تباه يې کړې چې تل مسلمانان وژني
څوک چې په هر ځای بې قصوره افغانان وژني

کابل کې وشو قتل عام غوښې يې والوتلې
دا کوم ظالم دی چې له مخې انسانان وژني

باد شوو غوښو ته يې مياندې په ژړا سترې شوې
دوی په بمونو د وطن لوی ماشومان وژني

يا زړونه نه لري يا جوړ دي لکه بوت له کاڼو
چې هره ورځ په بې رحمۍ مو ظالمان وژني

که ځان راټينګ کړمه نو زړه مې ژاړي څه وکړمه
دا قاتلان مې هم ځوانان هم مې مشران وژني

**بېداره** دومره ظلم کيږي چې حساب نه لري
هېڅوک خوندي نه دي بې وزله ماشومان وژني

## خفه جانان

په ټوکو ټوکو کې رشتیا رانه جانان خفه شو
زړه او ځیګر زما دلبر زما ارمان خفه شو

لکه ماشوم په لوبو لوبو کې شو،سم په ژړا
مانه زما د زړګي خپل وړوکی ځان خفه شو

چا راته ویل چې ځان له ځانه خفه کیږي څنګه؟
اوس باور وکه چې له مانه زما ځان خفه شو

چې مې ساتلی په نازونو وو د زړه پنجره کې
هغه طوطي والوت په حال زما اسمان خفه شو

د کافر څه ګیله په کار ده چې ایمان نه لري
د مسلمان له لاسه بیا یو مسلمان خفه شو

**بېداره** څوک چې ځان افغان او مسلمان نه بولي
په دې عمل یې د هېواد هر یو افغان خفه شو



## کرښې کرښې وینې

څوک په یو او څوک بل نوم قتل کیږي
پښتانه دي چې هر ځای کې ځپل کیږي

یو غم سوړ نه وي چې بل ورپسې راشي
داسې ورځ نه وي چې څوک نه وژل کیږي

په ژړا او جنازو باندې شو ستړي
په هر کور کې فاتحې اخیستل کیږي

رنګ د وینو یې لا وچ نه وي چې رنګ شي
کرښې کرښې وینې هر خوا شیندل کیږي

دومره ظلم به نړۍ کې بل ځای نه وي
افغانان دي چې ژوندي سوځول کیږي

مسلمان چې مسلمان وژني **بېداره**
چې هر څوک وي په کفارو پلورل کیږي

## لر او بر

هسې په خوله وايو چې (يو ) يو کيدلی نه شو؟
مونږ پښتانه! په يو ټغر راټولېدلی نه شو؟

لر دي په خپل غم اخته، بر دي خپلو وينو کې سره
بيا هم ناري وهو چې مونږه بيلېدلی نه شو؟

يو پيړی په دې کې واوخته چې يو به شو مونږ؟
بله پيړی کې هم ارمان پوره کولی نه شو؟

دلر او بر ناره وهو عمل پرې هيڅ نه کوو
وخت دعمل کې مونږه يو او بل زغملی نه شو؟

مونږ په يو کور کې هم دېوال د بېلتانه وهلی
اوس دخپل ورور سره دې کور کې اوسېدلی نه شو؟



هوښيار دشمن راته په هر قدم کې دام ايښی دی
په تش جذباتو له دې دام نه خلاصېدلی نه شو؟

اغزن تار خور شو، دروازه د تورخم بنده شوله
زړه ښه کوو، وايو چې « دا « مونږه منلی نه شو؟

**بېداره** هر پښتون که څان او جهان وپېژنده
د خپل منزل نه وروسته بيا پاتې کېدلی نه شو

✶ ✶ ✶

## خالي ښار

چا به ويل چا به منله؟ چې ټول ښار خالي شو
د چا په خيال کې نه راتلله چې ټول ښار خالي شو

پخوا به چا د بلاګانو دا قيصې کولې
ويل يو بلا دلته راتلله چې ټول ښار خالي شو

((کرونا))

## روانه دنیا

دا دنیا روانه ده خو ورانه ده
بله راروانه ده خو ګرانه ده

دې دنیا کې درد او تکلیفونه دي
نوم د خوښی نشته ټول غمونه دي
هر خوا خواره شوي نفرتونه دي
ځکه خو په هر چا سرګردانه ده
بله راروانه ده خو ګرانه ده

دې دنیا کې ورور له ورور بې زاره دی
پلار خفه له زوی ، زوی یې له پلاره دی
هرڅه دي په وار خو مرګ بې واره دی
جنګ او دشمنې پکې پرېمانه ده
بله راروانه ده خوګرانه ده



دې دنیا کې ګوره قاتلان ډېر دي
رحم پکې نشته ظالمان ډېر دي
شر ته بډ وهلي شېطانان ډېر دي
وینه د انسان پکې ارزانه ده
بله راروانه ده خو ګرانه ده

دې دنیا کې چا چې کبر کړی دی
ژوند کې ربړېدلی، کړېدلی دی
حال د کبرجن هر چا لیدلی دی
بس **بېداره** پاتې له هر چانه ده
بله راروانه ده خو ګرانه ده

★ ★ ★

## قطعه

یو څوک دی چې په زړه مې راوریږي او کړیږم
یو څوک دی چې مې سترګو کې ځلیږي او کړیږم

یوڅوک دی چې زما سره نژدې هم رانه لیري
یو څوک دی چې د سر نه مې تاویږي او کړیږم

## ماښام

ستا يادونه زړه ته راشي چې ماښام شي
درد د زړه مې لا سيوا شي چې ماښام شي

يو معصوم تصوير مې سترګو کې ځليږي
يو تصوير سر په ژړا شي چې ماښام شي

زه له ډېر ه غمه ټوله شپه شوګير کړم
په شوګير مې شپه سبا شي چې ماښام شي

ټوله ورځ يې په غوسه، خفه تيريږي
کله کله په خندا شي چې ماښام شي

ورځ کې هيڅ نه ويني سترګې يې ړندې وي
بس د شپې لږ شان بينا شي چې ماښام شي



لېونی زړه مې په هيڅ شي نه پوهيږي
هله پوهه په مانا شي چې ماښام شي

داسي ژر يې خپلې سترګې کړې بدلې
خپل اشنا مې نااشنا شي چې ماښام شي

د بخت ستورى د **بېدار** وريځو کې ډوب شو
په مزه مزه پنا شي چې ماښام شي

★ ★ ★

## شلغاتي

موږ چې واړه وو مونږ به کرښې په ديوال راښکلې
بيا به موشمار کړې چې مو څومره په کمال راښکلې

دا يوه لوبه وه چې ټولو ماشومانو کړله
چابه په يوځه چا په بل څه ښه په خيال راښکلې

## د اوښکو باران

ما چې ژړل ماسره سم مې جانان هم وژړل
په شين اسمان باران شروع شو اسمان هم وژړل

ظلم ډېر وشو او لا کيږي د افغان په خاوره
په دغه حال باندې ګبرو مسلمان هم وژړل

هغه چې تل له خندا شين وو غم يې نه پيژنده
ښه په سلګو يې د خپل ژوند په ارمان هم وژړل

اوفدغربتژوندونترېژونددماشومتوبواخيسته
نن مې دداسي يو ماشوم په داستان هم وژړل

په چغو چغو مې په خپله بي وسۍ وژړل
په چغو چغو مې په حال دافغان هم وژړل

ستا په ژړا به د خندا کلي کې څوک **بېدار** شي
د ګل خزان سره د ګلو باغوان هم وژړل



## نصيب

ما سره ملګرى دى او مانه جدا کيږي نه
غم راسره سم په لار روان دى هيڅ بېليږي نه

څه وکړم د خپل نصيب نه چرته، لېرې لاړ شمه
دا به مې قسمت وي چې يو کار زما سميږي نه

خلک محلونه په سپوږمۍ کې جوړول غواړي
خوار پښتون ته ګوره ! چې له غره نه راکوزيږي نه

وخت رانه تېرېږي مونږ په منډو پسې ستړي شو
وخت داسې روان دى چې په چغو ايساريږي نه

وينه توېول، سر غوڅول ورته هېڅ نه ښکاري
دومره وحشي شوى چې په چا يې زړه خوږيږي نه

وايم نور به نه ژاړم خو بيا هم په ژړا سر يم
اوښکې مې له سترګو نه روانې شي ودريږي نه

مه وهه پښتون ته چغې نه پاڅي غوسه به شي
داسې خښ ويده دى چې په چغو **بېداريږي** نه

# انداز

ناز کوه خو لږ شان یې په ساز کوه
کله هم په مونږ باندې اواز کوه

زړه سره د زړه خبره مه چېړه
بس د پاکې مینې دې اغاز کوه

سترگې دې په سترگو راته ښخې که
غلې اشاره ښه په انداز کوه

مینه په غلا نه شي ژوندی زړه غواړي
ښکار د مینې سم لکه د باز کوه

راشه څه بهانه **بېداره** جوړه که
ویې کړه دیدن بیا ترې پرواز کوه



# شاعري

نور د گل او د بلبل شاعري پرېږده
د سرو شونډو د وربل شاعري پرېږده

دخیالي جانان په سترگو کې اوسیږي
د سُرمې او د کجل شاعري پرېږده

کله ټیک، کله پېزوان راوړې له ښاره
د بنگړو او د چارگل شاعري پرېږده

سوله، امن او تعلیم وستایه شعر کې
د سنگر او د مورچل شاعري پرېږده

په ردیف ، قافیه او وزن چې سم نه وي
تش په نوم نظم و غزل شاعري پرېږده

چې د بل د غزل سر او ښپې راواخلي
بس د غلا او د چلول شاعري پرېږده

د کسکر په شان دې هر يو شعر کسکر که
دا ګډوډ، ادل بدل شاعري پرېږده

په هوا کې په هوا خبرې وکړې
بې مقصده بې منزل شاعري پرېږده

دا چې ته د چا په سپين رخسار مئېن يې
هغه لاړه شوه د بل، شاعري پرېږده

شاعران چې کله دا عادت شروع کړي
نو **بېداره** ته بلکل شاعري پرېږده

* * *



## په ځان لوبې

مونږه يې پخپله په خپل ځان کوو
هرڅه چې کوو وروسته ارمان کوو

خلک ژوند نه خوند اخلي، مزې کوي
موږ په ژوند کې ټول عمر خفګان کوو

سوچ کوو پرې وروسته چې عمل وکړو
ځکه خو په هر کار کې تاوان کوو

ښه مو په سندرو کې مشهور کړلو
ذکر په کې هر وخت د جانان کوو

خپل وطن مو وران له خپله لاسه کړ
ولې بيا ګيله د ټول جهان کوو؟

هر څه اورو، هر څه مونږه وينو خو
بياهم د ړندو، کڼو ګوزران کوو

اوس **بېداره** څوک چې هم ريښتيا وايي
هسې بې دليله پرې ګُمان کوو

# زما د وطن ګل

زما د وطن ګل دې په ګلونو کې ښایسته دی
هم رنګ یې د نړۍ ټولو رنګونو کې ښایسته دی

په ګرد کې د بارودو هم څلا کوي پرقېږي
قسم دی لکه لعل خړو ګردونو کې ښاېسته دی

رواج ، دود او دستور یې په دنیا کې منل شوی
کلتور یې د جهان ټولو دودونو کې ښاېسته دی

افسوس چې کاڼي بوټي يې په وينو باندې سرهٔ شول
زخمي زخمي وجود يې په سرو وينو کې ښاېسته دی

زموږ د زړګي سر دی، که د لر دی، که د بر دی
پښتون یو داسې قام دی چې قامونو کې ښاېسته دی

صفت یې زه **بېدار** ځکه کوم چې په ما ګران دی
وطن مې د نړۍ ټولو ملکونو کې ښاېسته دی



# عجیبه ښار

سړي خو ډېر دي خو سړی پکې د کار نشته
عجیبه ښار دی هېڅ مزه پکې د ښار نشته

واړه زاړه یې ټول په چل ول باندې ژوند تېروي
اوس مې ددې کلي په خلکو اعتبار نشته

هرڅه بدل دي، وخت بدل دی خو موږ نه بدلېږو
موږ پښتانه یو د بدلون په لار مو لار نشته

دوی چې په ځان لوبې کوي ځان له چې کار ګوري
یا عقل نه لري یا څوک په کې هوښیار نشته

هرڅه په منډو دي نیول یې راته ګران ښکارېږي
د زړه مو زور نه شته که ښپو کې مو رفتار نشته

د یو شهید، شهادت واړه پښتانه **بېدار** کړل
خپل حق به غواړي نور یې صبر و انتظار نشته

## سوچونه

ټوله شپه کوم سوچونه، ستا له غمه
ځکه نه راځي خوبونه، ستا له غمه

هېڅ باور مې په تعویذ او جادو نشته
خو اوس کومه تعویذونه، ستا له غمه

د ژوند هر ارمان مې تا ځنې قربان که
ورته اچوم اورونه، ستا له غمه

باور وکه چې زه ستا مینې شاعر کړم
اوس تړي ډک شول کتابونه، ستا له غمه

زه دا ستا لپاره هر چا سره جنګ کړم
اخلم تل په سر شرونه، ستا له غمه

ستا **بېدار** یم دا ستا مینې سودايي کړم
تل شلوومه ګرېوانونه، ستا له غمه



## روغ لېوني

ځینې خلک به سړي نه وي، سړي شي
ځینې روغ لېوني نه وي، لېوني شي

ځینې خلک چې څه نه لري نو ښه وي
ځینې لږ چې شي مالدار، بدل دستي شي

ځینې خلک د اسلام له دایرې نه
داسې وځي چې مرتد او دوزخي شي

ځینې وايي چې له مانه بل پوه نشته
په خبرو کې به سم درته قاضي شي

ستا به یار وي، ستا به ورور، ستا به عزیز وي
چې پېسې ورسره راشي، نو پردي شي

په خپل کلي کې شډل بډل پښتون وي
چې په ښار کې شي دېره نو بیا عصري شي

ځینې ځان باندې مئېن شي خپل صفت کړي
دده هره یوه خبره قیمتي شي

ځینې جنګ ته بډ وهلي هر وخت ناست وي
بس بهانه ګوري چې جوړه دشمني شي

ځینې شته خپلو جذباتو کې چې راشي
تش په خوله باندې پښتون شي، غېرتي شي

چې نفرت لري په زړه کې او مُضر وي
دا دنیا دې داسې خلکو نه خالي شي

چې عزت لري د بل عزت پرې ګران وي
د کم اصلو خلکو ورکه دې دوستي شي

چې همېش درته کوهې کني په لار کې
که دې خپل وي غرقه داسې دې خپلوي شي

څوک شهرت په ښه عمل ځانته پیدا کړي
څوک شهرت پسې شي وړی، تاواني شي

بس د خلکو د لوټولو طریقو ته
څوک شي پیر ، څوک شي ملنګ، څوک به ولي شي



انسان ډېر زیات دی کمزوری خو مغرور دی
په تکلیف چې شي وریاده عاجزي شي

خوشحالی کې بنده‌ګي د الله نه کړي
خو په سخته کې وریاده بنده‌ګي شي

زه **بېدار** د حق ویلو طرفدار یم
چې حق نه وایی له مخې دې ګونګي شي

✶ ✶ ✶

## بدل بدل

دا وخت بدل بدل شو ، که جهان بدل بدل شو
دا زه به ملامت یم ، که جانان بدل بدل شو

دا ولې مونځ ګوزار هم په دې کلي کې اوس نشته
ملاُ پکې بدل شو، که اذان بدل بدل شو

## انسانیت

د مینې کتابونو کې ټول درس د محبت دی
قرآن او حدیثونو کې تاکید د انسانیت دی

خو بیا هم دا انسان دی چې نفرت کړي له انسانه
که یو مخکې روان شي نو د بل ترې بغاوت دی

دا ټوله ځان ځاني ده، هر سړی وایي چې زه یم
دا څکه خو د ورور سره د ورور تل عداوت دی

مونږ نه ګورو خپل ځان ته چې په کومه لار روان یو؟
تل بل ته ګوته نیسو وایو دا ډېر ملامت دی

په خوله باندې یوه او په زړه بله ژوند روان دی
همدا زموږ ایمان دی او همدا مو صداقت دی؟



څوک بدې وهي جنګ ته او په جنګ کې بقا ګوري
خپل ځان، مسلمان وژني او په طمع د جنت دی؟

پردې کورونه چور کړي او فتوه د جهاد ورکړي
حرام ځان ته حلال کړي وایي دا مو غنیمت دی

**بېداره** جنګ پرستو نه مې زړه داسې تور شوی
چې وینې توېوي زما ترې کرکه او نفرت دی

* * *

## ارمانونه

څه یادونه مې تازه شول څه یادونه رانه هېر دي
دا به څنګه پوره کېږي؟ ارمانونه زما ډېر دي

وخت اوبه لکه بهېږي په شاه نه درومي وختونه
اوس چې مروړمه لاسونه ښه وختونه رانه تېر دي

## نېمگړی خوب

په طمع طمع یو د سولې بس کلونه شمارو
موږ لا اوس هم نېمگړي خوب ته تعبیرونه شمارو

ارمان مو لاړو په ارمان، ارمان کې جنگ وخوړو
بیاهم ارمان پوره کولو ته وختونه شمارو

دا په وطن شهید سرتېری دی له سر نه تېر شو
چې یې خوړلي په سینه تازه زخمونه شمارو

نن یې بیا څو جنازې راوړلې د جنگ له ډگر
په هدیره کې یو ولاړ نوي قبرونه شمارو

د کوم یو درد دې علاج وکړمه وطنه زما؟
ټوټې ټوټې خواره واره دې اندامونه شمارو

د کار سړي پکې پیدا نه شو د شمار سړو کې
سر پکې نشته دی **بېداره** صرف سرونه شمارو



## پر ځان مئېن

ځینې خبرې هیرېدلی نه شي
ځینې خبرې هېرېدل غواړي

چې څوک غرور او تکبر کوي ډېر
په بد انجام یې خبرول غواړي

چې خپل حیثیت او ځان ونه پېژني
له داسې خلکو لیرې تلل غواړي

چې لېونی شي په ځان چک لگوي
ځان به چیچي هم تا چیچل غواړي

چې بې غېرته او مجبور کړي سړی
داسې نشه بس پرېښودل غواړي

چا چې يو ځل درسره بد وکړله
بيا تري ټول عمر ځان ساتل غواړي

که غواړې هر څوک دې په قدر پوه شي
مينه هر ځای کې خورول غواړي

چې يې نفرت وي د زړه کور زنګ کړی
تل وي بد نيته، بد کول غواړي

د سړيتوب طمع تري نه ده په کار
څوک چې هميش شر جوړول غواړي

په خوله يوه او زړه کې بله ساتي
په بد عمل ځان سپکول غواړي

سترګې بدلې کړي هم ځان بدل کړي
وخت سره سم ځان بدلول غواړي

**بېداره** نه پوهېږي ځان شرموي
**بېداره** سم به پوهول غواړي

٭ ٭ ٭



## ارواښاد جهانزيب نياز بابا

چې خبر د ژوند په راز وو
دا بابا جهانزيب نياز وو

يو مکتب د محبت وو
مينه مينه شفقت وو
د ژوند اصل يې خدمت وو
پښتونواله يې عادت وو
د پښتون د زړه اواز وو
دا بابا جهانزيب نياز وو

یو د مینې سمندر وو
چې راخور په لر او بر وو
لوی عالم، پروفیسر وو
خدای ورکړي هر هنر وو
سربښندونکی، سرفراز وو
دا بابا جهانزیب نیاز وو

د«کاظم»، «میرویس» بابا وو
خو د ټول پښتون لالا وو
شخصیت یې لوړ بالا وو
له هر چا سره اشنا وو
خدای ورکړی ښه اعزاز وو
دا بابا جهانزیب نیاز وو

لاړو مونږ څنې جدا شو
صرف د سترګو مو پناه شو
خو د زړونو مو بادشاه شو
مرګ یو خوب و، چې ریښتیا شو
خپل د مینې یې انداز وو
دا بابا جهانزیب نیاز وو

✶ ✶ ✶



## مینه کول په کار دي

نفرت دې ورک شي له نفرت، نفرت کول په کار دي
مینه کول په کار دي
کرکې نه کرکه، محبت راخپلول په کار دي
مینه کول په کار دي

ژوند ډېر نېمګړی، نیمه خواه دی
مرګ راپسې ژوندون فنا دی
د ښه او بد یاد په دنیا دی
په دې دنیا کې له یو بله ځارېدل په کار دي
مینه کول په کار دي

د خدای لپاره را بېدار شئ
مسلمانانو لږ هوښیار شئ
روان د خدای په حقه لار شئ
چاته دوکه مه ورکوئ، ریشتیا ویل په کار دي
مینه کول په کار دي

پرېږدی دا خپلې تربگنی نور
دا د کلونو دشمنی نور
لاسونه ورکړئ د وروری نور
پښتنو خپل مېنځ کې یووالی راوستل په کار دي
مینه کول په کار دي

که حق حقدار ته ورسېږي
گیله د هېچا نه جوړیږي
هر سړی خپله قانع کیږي
**بېداره** ستا په دې وینا عمل کول په کاردي
مینه کول په کار دي

★ ★ ★



## د سولې د سپرلي باد

د سولې د سپرلي باده خبرو سره راشه
یو څو خوږو ټپو، مستو سندرو سره راشه

د گلو څادر خور که، امن وشینده په څمکه
د امن د پیغام سپینو کونترو سره راشه

د جنگ او د بارود بوی راټول که له دې خاورې
خوشبو هر خوا خوره معطرو سره راشه

راځه د مینې ساز شه او د ژوند خوږه نغمه شه
مطرب شه د سازونو نغمه گرو سره راشه

په مات وزر پرواز چې کوي لاندې گوزارېږي
چې ته کله راځې روغو وزرو سره راشه

یو زېری د پښتون د یو کېدو ځان سره راوړه
د لر وبر زلمو او شمله ورو سره راشه

ستا پل دې بختور شي د **بېدار** دغه ارمان دی
د سولې د کاروان لویو لښکرو سره راشه

## بې حسي

زړه مې ډک شي خامخا راته راځي
د وطن په حال ژړا راته راځي

ماته خوب له ويرې نه راځي يرېږم
تل په خوب کې يو «بلا» راته راځي

پخوا ما هم هېڅ پروا يې نه لرله
اوس پروا د بې پروا راته راځي

د انسان په بې حسۍ مې زړه خفه شي
ډېر افسوس بې انتها راته راځي

دا حالت چې وينم سم لېونی کېږم
نو غوسه خو په رېښتيا راته راځي

ما **بېدار** لاس پورته کړی امن غواړم
خولې ته بس دغه دعا راته راځي



## هدف

نه يرېږم، نه ستنېږمه درځم
که غورځېږم، نو پاڅېږمه درځم

تا خو وشيندل اغزي په هره لاره
په اغزو به در تېرېږمه درځم

د خپل ظلم انتها دې که تمامه
ستا له ظلمه نه يرېږمه درځم

د هدف په لوري ګام اخلم روان يم
خپل مرام ته به رسېږمه درځم

لا ترڅو به زما مخ وي ستا څپېړې؟
نور دې لاس نيسم پوهېږمه درځم

ته زما **بېدار** احساس وژلی نه شې
زه به بيا بيا ژوندی کېږمه درځم

# موخه

دا دی روانېږم در روان یمه
اوس نه پاتې کېږم در روان یمه

تا خو دې پښتو خپله پوره کړله
زه هم نه ستنېږم در روان یمه

هر څومره که سخته وي درځم به خو
ولیړمه، رالوېږم در روان یمه

یو به شو او ویښ به شو هوښیار به شو
ټول شومه، رغېږم در روان یمه

نور رانه ذره هم انتظار نه شي
ساه اخلم پاڅېږم در روان یمه

څه! **بېداره** درومه د هدف په لور
زه هم در رسېږم در روان یمه



# پټه خبره

چې پټه مې ساتلې وه په زړه کې له هر چا نه
د خولې نه مې هغه خبره ووته جانانه

متل دی چې په ځای باندې پرته وي نو درنه وي
له ځای نه چې خوځیږي تیږه سپکه شي بې شانه

په دې وطن کې هر څه ښه قیمته پلورل کیږي
صرف وینه ده چې ښه پکې پلورلی شي ارزانه

مونږ کله هم په ورین تندي له یو بله ځار نه شو
ته ما نه ګیله من یې، زه همېش ګیله من تانه

په هر ځای کې په نه خبره بدې وهو جنګ ته
خبرو کې چې وران شو یو بل نیسو له ګرېوانه

د هر کار له اغاز نه مخکې سوچ کوه **بېداره!**
چې کار داسې ونه کړې چې شې وروسته پښېمانه

## د ژوند انداز

ژوند مې خپل انداز سندره کړی دی
ما د زړه اواز سندره کړی دی

تل د خپل احساس سره په جنګ یمه
تل مې دغه راز سندره کړی دی

ستا هره ادا راباندې ښه لګي
ځکه مې ستا ناز سندره کړی دی

ما یې د انجام پروا ونه کړله
مینې مې اغاز سندره کړی دی

څومره یې اثر دی غږولو کې
سوز سره مې ساز سندره کړی دی

الوځي **بېداره** بره، بره ځي
زړه ته مې پرواز سندره کړی دی



## د یادونو سلسله

یو تنهایي بل نیمه شپه وه ته مې ډېر یادېدې
نرۍ باران بله ډیوه وه ته مې ډېر یادېدې

د خیال نیلی مې ځغلولو په شعرونو پسې
د غزل سترګه مې ړنده وه ته مې ډېر یادېدې

په خوب کې راغلې او په خوب کې رانه بېرته لاړې
خوب کې عجیبه شان قیصه وه ته مې ډېر یادېدې

ما د سیتار غوږۍ راتاو کړه زمزمه شوم پکې
پرې سوره کړې مې نغمه وه ته مې ډېر یادېدې

بس له حیا یې سترګې ښکته کړې پښتو یې وکړه
د **بېدار** مینه پښتنه وه ته مې ډېر یادېدې

## منې او که نه

ستا ټول غمونه دي زما شي دا منې او که نه
زما ټول عمر دې دا ستا شي دا منې او که نه

د زړګي سترګې چې ړندې شي مینه نه پېژني
چې مینه وکړي نو بینا شي دا منې او که نه

چې ته مې ولیدې نو ټول بدن مې رپ ونیوه
لکه پیریان چې په چا راشي دا منې او که نه

چې ورته وګورم نو خیال مې چرته لیرې یوسي
دا ستا تصویر چې په خندا شي دا منې او که نه

مینه کول دلته ګناه ده لېونی کړي سړی
څوک چې اخته په دې ګناه شي دا منې او که نه

هاغه شېبه او ننداره د چا هیرېږي کله؟
څوک چې په مینه کې رسوا شي دا منې او که نه

محبت ګران دی که اسان دی ته یې نه شې کوی
**بېداره** څه له دې سودا شي دا منې او که نه



## ښه کول ګناه ده

(د ناکامورا په یاد)

دلته ښه کول ګناه ده دلته بد کول ثواب دی
دلته قهر نازل شوی دلته هر وخت کې عذاب دی

دلته هر يو سړی ژاړي، امنیت له خدایه غواړي
دلته ژوند دی په دار شوی دلته ژوند په اضطراب دی

دلته ښار یې ناپرسان دی، دلته نوم د قانون نشته
دلته بس لنډه غري ده هر سړی خانه خراب دی

دلته قتل اسان کار دی، دلته هره لوبه کېږي
دلته تل وینه توېږي دلته هر سړی قصاب دی

دلته ښه ډېر جهالت دی، دلته هر کار په دولت دی
دلته توره په ټوپک ده لاس نه لیرې یې کتاب دی

دلته هر څه بدلون غواړي يو ملي ترون په کار دی
دلته اوس **بېداره** واوره ضرورت د انقلاب دی

## بې وفا

ولې لاړې بې وفا شوې، نه راګورې نه درګورم
دا په څه رانه جدا شوې، نه راګورې نه در ګورم

ما خو ستا مینې لپاره دا خپل ځان درنه قربان که
ځان خو پرېږده چې له تامې ټول جهان درنه قربان که
خو ته دومره بې پروا شوې، نه راګورې نه درګورم
دا په څه رانه جدا شوې، نه راګورې نه درګورم

ستا یادونه تازه کېږي چې خوبونو کې راځي
درد د زړه مې لا زیاتېږي چې خوبونو کې راځي
وې زما خو د بل چا شوې، نه راګورې نه در ګورم
دا په څه رانه جدا شوې، نه راګورې نه درګورم



غم دې داسې سودايي کړم چې روان يم ګوتې شمارم
لېونی ستا جدايي کړم چې روان يم ګوتې شمارم
له ملکونو نه پناه شوې، نه راګورې نه درګورم
دا په څه رانه جدا شوې، نه راګورې نه دې ګورم

د **بېدار** د زړه ارمانه راشه راشه په ما ګرانه
بس نور مه ژاړه جانانه راشه راشه په ماګرانه
غلی غلی په ژړا شوې، نه راګورې نه در ګورم
دا په څه رانه جدا شوې، نه راګورې نه در ګورم

* * *

## پېسه

عزت يې يو په سل شي چې پيسې ورسره وي
پردي به يې هم خپل شي چې پيسې ورسره وي

نه علم نه هنر لري خو کبر يې ډېر زيات وي
بوتل به وي، اتل شي چې پيسې ورسره وي

## د جنګ بلا

نه مې ويله خو له درده خامخا ووته
زړه کې ساتلې مې د زړه خبره بيا ووته

پرون يې ورور په وينو سور ورله تابوت کې راوړو
نن جنازه يې بيا له کوره د ماما ووته

بيا په دې ښار کې يو چاودنه وشوه وينې توې شوې
هاغه دی بيا ناوې سرتوره په ژړا ووته

د مرګ په لوبه کې بېلات او ګټل نه وي معلوم
د چا شو لاس په وينو رنګ، له چا نه ساه ووته

لاسونه پورته کړم خو نه قبليږي څه وکړمه؟
د امن سولې پسې خولې نه مې دعا ووته

پخوا ازاد وو خو اوس خپله خپلواکي نه لرو
امان راوستې وه خو بېرته په ريشتيا ووته

**بېداره**! امن به حتمي راشي په ټول هېواد کې
که له وطن مو په ريشتيا د جنګ بلا ووته



## د محبت سندره

عاشق شوې ای زړګيه ډېر غمونه دي او ته يې
په رنځ باندې اخته شوې اوس دردونه دي او ته يې

زړګيه اوس ژړېږه ما نه ويل چې مئېن شه
له درده اوس کړېږه ما نه ويل چې مئېن شه
بس بې اوره سوځېږه ما نه ويل چې مئېن شه
سلګو سلګو کې ژاړه اوس ويرونه دي اوته يې
په رنځ باندې اخته شوې اوس دردونه دي او ته يې

د مينې په دې ښار کې سودا اخيستل ګران دي
د ژوند په دې بازار کې سودا اخيستل ګران دي
د چا په انتظار کې سودا اخيستل ګران دي
ارمان کوه ارمان چې ارمانونه دي اوته يې
په رنځ باندې اخته شوې اوس دردونه دي او ته يې

د زړه نه زړه ته لار وي چې بلکل حقيقت دی
دعشق دغه روزګار وي چې بلکل حقيقت دی
عاشق په زړه بيمار وي چې بلکل حقيقت دی
اوس سم پکې راګېر شوې طوفانونه دي اوته يې
په رنځ باندې اخته شوې اوس دردونه دي او ته يې

له هر څه نه بېزار شوم، دا مينه لېونتوب دی
منصور په شان په دار شوم، دا مينه ليونتوب دی
له خوبه چې **بېدار** شوم، دا مينه ليونتوب دی
ملګري دې په ژوند کې فريادونه دي او ته يې
په رنځ باندې اخته شوې اوس دردونه دي او ته يې

✶ ✶ ✶

## قطعه

ستا چې له افغانه زړګی تور شولو
داسې مې له تانه زړګي تور شولو

اوس مې اعتبار په هېڅا نه راځي
اوس مې له هر چا نه زړګی تور شولو



## پرهرونه

تنګوي مې ستا يادونه څنکه وکړم؟
راته نه راځي خوبونه څنګه وکړم؟

تر سهاره مې يو درد نه قلارېږي
لګوم پرې ټکورونه څنګه وکړم؟

پرهرونه مې د زړه راپورې خاندي
تازه کېږي مې زخمونه څنګه وکړم؟

زه ترې تښتم خو په ما پسې روان وي
ماچې نه پرېږدي غمونه څنګه وکړم؟

وعدې وکړي خو **بېداره** پوره نه شي
راکوي بس تاريخونه څنګه وکړم؟

## ویې نه پېژندم

د ژوند په لار دواړه روان وو، ویې نه پېژندم
څه عجیبه شانې انسان وو، ویې نه پېژندم

زما په زړه کې اوسېده لکه د تن او د روح
له خپله ځانه راته ګران وو، ویې نه پېژندم

هغه اوس نوم و بدل کړی پښتون نه ښکارېده
ما ورته ویل نوم مې افغان وو، ویې نه پېژندم

پرون یې وژړل په چغو چې مې هېر کړې اشنا
ډېر غوسه شوی مې جانان وو، ویې نه پېژندم

په دغه یو کلي کې مخې ته څو ځله راغی
ځان یې ناجانه که روان وو، ویې نه پېژندم

د زوال نخښې یې **بېداره** اوس څرګندې شولې
شو لېونی څېرې ګرېوان وو، ویې نه پېژندم



## سپرلی

موسم په بدلېدو دی ، دي رنګونه د سپرلي
فضا وړمې وړمې شوه، دي بویونه د سپرلي

بلبلې په ګډا شوې بورا ګان ورته اتڼ کړي
نغمې خوږې غږېږي هم سازونه د سپرلي

رنګونو غېږې ورکړې خوشبویي په خورېدو شوه
ګلګون ښکلي ښکارېږي دشتې غرونه د سپرلي

عجیبه شانته کیف دی د اوبو په ترنم کې
په شور کې مست روان دي مست سیندونه د سپرلي

پړوني مو د پېغلو د وطن ملي بېرغ دی
رنګه رنګه پرې ښکاري ګودرونه د سپرلي

زلمي مو په اتڼو د سیل ځای ته ځي روان دي
**بېداره** هېر دې نه شي دا خوندونه د سپرلي

# سفر او چکر

کله کله د خپل فکر بدلولو
په خاطر له خپله کوره وتل ښه وي

د فطرت د ښکلا ګانو په لمن کې
په تازه هوا کې ساه اخیستل ښه وي

د سپرلي د ګلو بوی دماغ تازه کړي
د ګلونو په اورشو ګرځېدل ښه وي

له منفي سوچ نه که ځان خلاصول غواړې
له منفي خلکو ځان لېرې ساتل ښه وي

د صحت لپاره ډېر زیات ګټور وي
طبیبان وایي پیاده ګرځېدل ښه وي

له هوښیارو سره تل کېنه بندار کې
څه به زده کړې له هغوی اورېدل ښه وي



د کتاب سره دوستي لبره پکار ده
مطالعه کول، لیکل او لوستل ښه وي

که اعتبار ساتي چې پور له چانه واخلې
په خپل وخت باندې د پور خلاصول ښه وي

د حرامو په خوړو کې سکون نشته
که سکون غواړې حلاله خوړل ښه وي

چې څو ځله تجربه شي نه سمېږي
له مضر سړي نه مخ اړول ښه وي

د بې عقلو سره بحث په کار نه وي
ښه به دا وي چوپه خوله کېناستل ښه وي

د **بېدار** سره چې ګرځې څه به زده کړې
په سفر کې معلومات زیاتول ښه وي

* * *

## خبرې مه کوه

جرم دی ریشتیا نورې ریشتیا خبرې مه کوه
څوک به دې کړي ورک له دې دنیا خبرې مه کوه

سترگې دې که پټې ځان دې ړوند که چې هېڅ نه وینې
لاس کې گرځوه غټه امسا خبرې مه کوه

وژاړه زړگیه ښه په چغو، چغو وژاړه
را دې نه شي خوله باندې خندا خبرې مه کوه

خپل کار ته به ښه وایې او تا به سور کافر کاندي
تور نه به څنگ خلاص شې د مُلا خبرې مه کوه

ورځې ته به شپه وایې او تورو ته به سپین وایې
دروغ وایه په نره ، بې پروا خبرې مه کوه

نور **بېداره** ژوند هم سترې شوی دی له دروغو نه
ځمکې ته راکوز شه په هوا خبرې مه کوه



## ملنگ جان

وو د پښتنو ملنگ دا وو د پښتو ملنگ
دغه ملنگ جان ملنگ، دا وو د نغمو ملنگ

نه مري د ملنگ اشعار، تل د ټنگ ټکور ښایست
دا په هر چا گران ملنگ، دا وو د حجرو ملنگ

ځای لري په زړونو کې، اوسي مو خیالونو کې
هر چا یادوو ملنگ نه وتو د زړو ملنگ

وو په خلپواکۍ مئېن ډېر د ازادۍ مئېن
ځان یې په وطن قربان ، تل ترې ځارېدو ملنگ

تل به وو **بېدار** ملنگ، پوهه او هوښیار ملنگ
هر ځای اوسېدو ملنگ، هر وخت ځلېدو ملنگ

# د وينو لوبه

اسمان کې ورېځې چې سرې کيږي زما زړه درزېږي
خدای خبر بيا به څه چل کيږي زما زړه درزېږي

ظالمان نه ګوري چې څوک وژني د څه دپاره؟
د ظلم سترګې نه ړندېږي زما زړه درزيږي

هر خوا چې ګورم کرښې کرښې وينې لاړې وکړي
د وينو لوبه نه ختميږي زما زړه درزېږي

انسان وژنه کې يې ښه نوم په دنيا پيدا کړو
کافر انسان دی نه سميږي زما زړه درزېږي

عجيبه وخت راغی؟ که بې وخته قيامت راغلی
ورور چې د ورور سره جنګيږي زما زړه درزېږي

**بېدار** په چغو چغو نه ژاړي، سلګو کې ژاړي
دلته هر څوک پټ پټ ژړيږي زما زړه درزېږي



# مينه

نه انکار او نه اقرار کوي له مينې
اشنا کله به اظهار کوي له مينې

په لمانځه کې به هم تا غواړي له خدايه
ډېر نفلونه وار په وار کوي له مينې

يو متل دی چې د خره مينه وي لته
خر چې چا باندې ګوزار کوي له مينې

چې له خوبه راپاڅېږي اول تاته
سلامونه هر سهار کوي له مينې

دا په تا باندې همدومره خفه کيږي
دا چې تل تاته ازار کوي له مينې

دا يې مينه نه ده ووايه نو څه دي؟
چې نازونه په **بېدار** کوي له مينې

## مغرور

مغرور د ځان په تماشه و نور یې هېڅ نه لیده
په ځان مئین دومره نیشه و نور یې هېڅ نه لیده

د کبر ډک یې هر انداز و په خبرو کې پروت
تل به غوسې نه سره لمبه و نور هېڅ نه لیده

ټوله دنیا ورته د ځان په شان وړه ښکارېده
دومره نادان او سرتمبه و نور هېڅ نه لیده

یوازې ځان ورته بینا خلک ړانده یې بلل
د سر ماغزه یې کونجاړه و، نور یې هېڅ نه لیده

**بېداره** ټول ژوند یې د بل په پرزولو تېر شو
د سر نه ښپو پورې فتنه و، نور هېڅ نه لیده



## زړه مې خوري

سترګو ته دې ووایه چې نه مې خوري
ستا کاته، خواږه خواږه مې خوري

دا د درد خبرې راته مه کوه
دا خبرې پرېږده بس دی زړه مې خوري

شور راباندې بد لګي ترې وتښتم
شور سره مې سر چورلي ماغزه مې خوري

یو شي غریبي بله د ژمي شپه
ټول بدن مې ریږدي او ساړه مې خوري

لیرې که له دې نه مې ډېر بد راځي
یو دغه ټوپک بله چاړه مې خوري

شوله د **بېدار** مسافرې اوږده
ډېر کلونه پس دده راتله مې خوري

## ورکه لار

لاره مو ده ورکه تل په ورکه لار روان یوو مونږ
ژوند کوو لګیا یو خو بې روحه انسانان یوو مونږ

وخت چې رانه تیر شي لاس به ومروړو فریاد کوو
ځکه خو د وخت پسې په منډو سرګردان یوو مونږ

سوچ کوو پرې وروسته چې کار وکړو نو افسوس کوو
هر عمل چې وکړو بیا دستي پرې پښیمان یوو مونږ

کور په کور ماتم دی، مسلمان د مسلمان دشمن
ځان وژنو پخپله او د خپل ځان قاتلان یوو مونږ

پند د نفرتونو مو په شاه دي مینه ختمه شوه
نوم د محبت سره تل وران یو پریشان یوو مونږ

خلک ژوند نه خوند اخلي مزې کوي او ژوند کوي
مونږه در په در یوو، همیشه په ژوند تاوان یوو مونږ



نه مو په سیاست نه مو په پوهه څوک قانع کړله
تش لافې مو زده دي د جذباتو باتوران یوو مونږ

دروغ ښه پرېمانه وایو هېڅ پروا یې نه کوو
وایمه ریشتیا چې د ریشتیاوو دشمنان یوو مونږ

نه یو په عمل کې بس خبرو باندې شخوند وهو
پوه یو که ناپوهه خو له مخې هوښیاران یوو مونږ

بس که نور **بېداره** زړه دې مه خوره لېونی به شې
روغ په مونږ کې څه کوې ناروغه لېونیان یو مونږ

✶ ✶ ✶

## جفا

تـا چــې څومــره مــا سره جفــا کــړې
مـــا درسره یـــو پـــه دوه وفـــا کـــړې

تـا راتــه ازار کــړی پــه هــر وخــت کــې
مـا درتــه پــه هــر لمانځــه دعــا کــړې

## تجربه کېږي

په ځینې ځینې وخت کې خو اصلي تجربه کیږي
د ژوند په حادثو کې خو حتمي تجربه کیږي

چې تاته بې ریا د پرېښتو غوندې ښکارېږي
چې لاس د دوستۍ ورکړې نو سړي تجربه کیږي

چې چا سره شریک د ګټې وټې کار شروع کړې
چې وخت د ګټې راشي نو دستي تجربه کیږي

څه ورکه کنه قرض او په خپل وخت یې ترې غواړه
د ځینو قرضدارو خو بیخي تجربه کیږي

دا ځینې سیاسیون دروغو کې داسې ماهران شي
وعدې کوي وعدې به ماتوي تجربه کیږي

ژوند خپله یو کتاب د تجربو فال پکې ګوره
**بېداره** غلطۍ کې غلطي تجربه کیږي



## زما ګران افغانستانه!

لړ به غوړ شې په ما ګرانه
ستا خوږې قیصې کومه
د مزې قیصې کومه
هم د حال ماضي ترمېنځه
څو ترخې قیصې کومه
ستا یو نوم په دې جهان و
د مېړانې دې داستان و
دښمنان دې په لړزان وو
هر یرغل دې تمبولی
یرغلګر دې دی شړلی
چې یې بد درته کتلي
هغه دم دې ژړولی
چا چې ستا نیوو لپاره
د فریب دام غوړولی
په شرمونو دې یاد شوی
په شرمونو شرمېدلی
ستا تاریخ د حماسو دی
هر غلیم دې ځغلولی

زماگران افغانستانه !
خو اوس ستا بچي لگیا دي
ستا په غوښو نه مړېږي
ته یې چور کړې، ته یې لوټ کړې
خو یې خېټه نه ډکېږي
ته یې وران کړې، کنډواله کړې
لا یې زړه هم نه یخېږي
د ملت مال یې تالا که
د دولت ځمکې یې غصب کړې
بلډینگونه پرې جوړېږي
مارکیټونه یې پرې جوړ کړل
بس ډالرې راټولېږي
او خارج ته لېږل کیږي
وزیران او کابینه دې
د خارج نه پارسل کیږي
په ډالرو کې معاش اخلي
خو بهر ټول لیږل کیږي
د وطن غریب ولس مو
د روزۍ پسې ړندېږي

زما گران افغانستانه!
بس په تا مې زړه خوږېږي
دا څه کیږي لا به کیږي
لنډه غر درته گواښېږي



جنگسالار جنگ ته گډېږي
د افغان له نومه تښتي
او اسلام یې نه خوښېږي
په فساد کې ټول اخته دي
په فساد یې ژوند تېرېږي
د ملت غوښې په خوند خوري
نه یرېږي، نه شرمېږي
نا امنۍ کې خپل خیر ویني
تل د بل لاس کې لوبیږي
ځیني خره خراسان غواړي
دا ستا نوم یې نه خوښیږي

زما گران افغانستانه!
دغه ټول ستا دشمنان دي
دوی د امن قاتلان دي
که داعش که طالبان دي
یا که ځان مجاهد بولي
جنگ پرسته رهبران دي
د جهاد ټیکه داران دي
ټول د مخې خاېنان دي
امریکا که خارجیان دي
یا دې گرد چاپېر پراته دي
خود غرضه گاونډیان دي
دوی د خپل غرض لپاره
بس اخته دا ستا په ځان دي

زما ګران افغانستانه !
مونږ جنګونو کې رالوی شو
او جنګونو کې روان یوو
مونږ ناپوهه یو که پوهه
خو له مخې باتوران یوو
ښې خبرې مو زده کړي
د خبرو شنه پړانګان یوو
د عمل په وخت کې نه یوو
بس په لافو کې نران یوو
په جذباتو کې چې راشو
نه په ځان نه په جهان یوو
څه سر زوره افغانان یوو

زما ګران افغانستانه !
اوس ګېله وکړم له چانه
ګېله من یم له خپل ځانه
بس دا یو دعا به غواړو
خدای دې تا لري ودانه
دشمنان دې ټول برباد شه
چې به تاته څوک بد ګوري
هغه ورک شه، نامراد شه
هغه ورک شه، نامرادشه

★ ★ ★



## بې وفا

کله ځان کله جانان هم بې وفا شي
کله ډېر خواږه یاران هم بې وفا شي

انتظار کې په ارمان ارمان وخت تېر شي
چې پوره نه شي ارمان هم بې وفا شي

د پاړو په دم کې هېڅ نه راګیرېږي
ټک چې ورکړي نو ماران هم بې وفا شي

کله کله د خپل ځان نه ګېله من شم
کله کله دا خپل ځان هم بې وفا شي

چې مالدار وي خپل پردي ترې نه تاوېږي
چې غریب شي نو خپلوان هم بې وفا شي

د انسان نه چې حیوان جوړ شي **بېداره**
ځان ساته ترې انسانان هم بې وفا شي

## بدبخته

جنګونو کې پیدا شول په جنګونو کې روان دي
بدبخته افغانان دي
څوک مري پکې د لوږې اوڅوک ناڅاپه خانان دي
بدبخته افغانان دي

ځلوېښت کلونه تېر شول خو له جنګه وزګار نه شول
خواران په کرار نه شول
په ژوند کې چرته یوځل له یو بله نه ځار نه شول
خواران په کرار نه شول
په هره یوه چاودنه کې زخمیان سل شهیدان دي
بدبخته افغانان دي

ځوانان یې بې کارۍ نه د یورپ په طرف درومي
چې رسي څه به مومي
خوږلي ډوډۍ بېرته یې را وباسي له کومي
چې رسي څه به مومي
څوک ورسي هدف ته څوک په خپل تګ پښېمان دي
بدبخته افغانان دي



په خپل مېنځ کې جوړ نه دي او له بل نه ګېله من دي
چې څوک دلته واکمن دي
سیاست نه خبر نه دي خو په خپل سیاست ډاډمن دي
چې څوک دلته واکمن دي
کرسۍ پکې یوه دوی دي بې شمېره سره وران دي
بدبخته افغانان دي

دنیا پرمخ روانه دوی تر وروسته پاتې کېږي
قسم دی که پوهېږي
دوی خپلو کې اخته دي او په خپل مېنځ کې جنګیږي
قسم دی که پوهیږي
**بېداره** ځان ازاد بولي خو اوس هم غلامان دي
بدبخته افغانان دي

✶ ✶ ✶

## ازار

ازار که د مظلوم اخلي قسم دی چې ورکېږي
د اوښکو له دریاب نه یې ځان ساته چې ډوبیږي

متل دی د ازار نه چا بازار موندلی نه دی
هم هاغه دررسیږي چې تا کړي دا به کېږي

## د ژوند سندره

نغمه د ژوند سندره شوه نغمه شوه رانه پاتې
د وخت نه لېرې لاړم زمانه شوه رانه پاتې

دا ژوند یو افسانه ده چې اغاز انجام یې یو وي
قیصه قیصه کې لاړه ستا قیصه شوه رانه پاتې

زه نه شم رسېدلی د اشنا ناز او نخرو ته
له ډېرې غریبۍ نه یارانه شوه رانه پاتې

په مینه یې د سترګو اشاره کې راته وویل
نور نه راځم دې چم ته دا کوڅه شوه رانه پاتې

ښایست یې ائینه کړله د ځان پورې حېرانه
**بېداره** د یو حسن تماشه شوه رانه پاتې



## پښتنه پېغله

له حیا ډکه وه په خیال ګرځېده
له نازه ډکه په کمال ګرځېده

چې د بلۍ سرته راوختله
لکه د زرکې په دېوال ګرځېده

هر یو انداز یې له ادا نه ډک وو
په هر قدم کې به په چال ګرځېده

کرښې راکاږي په دېوال او شماري
د چا په طمع د وصال ګرځېده

**بېداره** هېڅ پروا د چا نه لري
څه په دبدب او په جلال ګرځېده

## د اوښکو امیل

کله بابا، کله ابی، کله ادې ته ژاړي
چې واړه وړي شي ټول بندې دروازې ته ژاړي

هغه بوډۍ چې باد یې سر نه لوپټه جگه کړه
دغه بې کوره بوډۍ تل څیرې خیمې ته ژاړي

دغه فقیر چې ویده کیږي نو له خوب نه مخکې
خدای خبر بیا ولېددې بابا روزې ته ژاړي؟

د کلي ښځې ورته بیا په ډله ورغلې
څوک د زوی قبر او څوک ټولې هدیرې ته ژاړي

اوښکې یې پاکې کړې د خپل څادر په پیڅکي باندې
څه پرې تېر شوي چې همیش مخ کړي قبلې ته ژاړي

**بېداره** دا خلک چې کېني او قیصې شروع کړي
له ژونده ستړي دي هر یو خپلې قیصې ته ژاړي



## د خپلواکۍ ترانه

چې جوړه مو دنیا کې د هر چا سره سیالي شوه
نصیب مو خپلواکي شوه
په شونډو راخوره چې مو خندا او خوشحالي شوه
نصیب مو خپلواکي شوه

په توره د امان
هرځای وشو اعلان
نور نه یو غلامان
د هر افغان په خوله یوه ناره انقلابي شوه
نصیب مو خپلواکي شوه

همت وو د غازیانو
شو خلاص د انگریزانو
خوښ اوسئ افغانانو
خپلواک زمونږ مرام شو او خپلواکه زندگي شوه
نصیب مو خپلواکي شوه

چې امن، سوکالي وي
قاېمه ورورولي وي
چې ورکه دشمني وي
موږ ټول په اتفاق شو او په برخه مو خوښي شوه
نصيب مو خپلواکي شوه

خپلواک او خپل اختيار يو
دفاع ته يې تيار يو
ويده نه يو بېدار يو
**بصير** وايي يارانو په ريشتيا باچاخاني شوه
نصيب مو خپلواکي شوه

نوټ: دا ترانه د کابل په ملي تلويزيون کې د زر ولي افغان په ښکلي غږ ريکارډ شوې او په دې ترانه يې ايوارډ هم ورته ورکړی دی.

* * *



# خان لالا ته دعقيدت پېرزوينه

د سوات پښتنه سيمه کې لوی خان و خان لالا
په ټولو پښتنو د زړه نه گران و، خان لالا

ريښتيا چې مبارز و د قامي وحدت لارښود و
يووالي د پښتون يې لوی ارمان و، خان لالا

د لر او بر د ټولو پښتنو د زړه اواز و
ښکاره لکه د لمر داسې روښان و، خان لالا

په هر څه بهادر و او د خپل ولس خبر و
گټلی يې د امن ستر نښان و، خان لالا

ټوټې ټوټې پښتون يې رابللو اتحاد ته
په دې لار کې د مال او سر قربان و، خان لالا

نقشه کې د نړۍ يې پښتونخوا نامه غوښتله
په هر ځای کې ښکاره کړی اعلان و، خان لالا

په ژوند يې پښتانه د محبت په تار تړل خو
افسوس چې پښتانه خپلو کې وران و، خان لالا

**بېدار** کومه وياړ چې ښه ملگری مې د پلار و
چې ستوری يې ملگری د کاروان و، خان لا لا

# خبر

نه شته د خوښۍ او د خندا خبر
هره ورځ به اورې د ژړا خبر

دلته تل وير، ساندې او دردونه دي
کله به وانه ورې کوم هوسا خبر

بيا د انسانانو قتل عام وشو!
بيا رسنو خپور کړلو همدا خبر

غوږ به دې هميش د غم خبر اوري
مړه شو شهيدان شو دلته بيا خبر

دروغو به تمام کلي وران کړي وي
څو چې رارسيږي د ريشتيا خبر

بيا مې سترګه رپي څه چل بيا وشو
وانه ورمه بيا کوم ناروا خبر

غوږ د **بېدار** ستړی انتظار کړلو
هېڅ نن رانه وړو د اشنا خبر



# انتظار

څوک زما او څوک دا ستا په انتظار
وي ولاړ به خامخا په انتظار

پرون ټوله ورځ بلی ته ورختله
يوه پيغله د اشنا په انتظار

ما سهر نه تر ماښام لارې څارلې
د يو ښکلي بې وفا په انتظار

ژوندون ټول په دغه طمع ، اميد تېر شي
د تيارو نه د رڼا په انتظار

دا يتيم ماشوم لا اوس هم خبر نه دی
شماري ورځې د بابا په انتظار

**بېدار** ستا لارې ته ګوري اوښکې توې کړي
سترګې سرې يې کړي ژړا په انتظار

# سلګۍ

ډېرې ژړا نه یې د سترګو نه لمبې ووتې
چې یې د کلي نه څو غبرګې جنازې ووتې

د درد په کور کې یې په اوښکو روژه ماته کړله
د وړي نس نه یې یو څو کوکې تیرې ووتې

قیصه اوږده وه خو قیصه بې هېڅ کولی نه شوه
سلګو نیولي و د خولې نه یې توبې ووتې

آه د مظلوم ورته هېڅ نه ښکاري پروا یې نه وي
که ورته هر څو د مظلوم د زړه ښیرې ووتې

دغه تضاد دی چې څوک ژوند کوي څوک ژوند تېروي
د چا محل د چا کیږدۍ کې ورځې شپې ووتې

په خوله یې هېڅ نه ویل سترګو یې ټول حال ووایه
اوښکو سره یې ښکلو سترګو نه ګیلې ووتې

**بېداره**! ساندو کې به خوند د اتڼونو څه وي
چې د رباب نه د پښتو د ساز نغمې ووتې



# بلاګانې

په سپینه ورځ یرېږم بلا ګانې راپسې دي
په منډو یم منحوثې اروا ګانې راپسې دي

له شوره ډېر یریږم چې یې اورمه بوږنېږم
ویرونه دي ماتم دی ژړا ګانې راپسې دي

کابل په وینو سور دی، پېښور په وینو سور دی
سپین سترګې، شرپسنده هواګانې راپسې دي

مونږ ډېري سهوې وکړې او په سهوه نه پوهېږو
خطا کوو لګیا یو خطاګانې راپسې دي

زمونږه هر عمل ته انسانیت ګوته په غاښ شي
هر څوک راپورې خاندي خنداګاني راپسې دي

**بېداره** په کوم جرم د پښتون ژوند په عذاب دی
سزا لا ختمه نه ده، سزاګانې راپسې دي

## مزدور

ویښ شي نیمه شپه کې ورته وږاړي
ژوند نه په ګیله کې ورته وږاړي

راشي خالي لاس واړه ورمنډې کړي
ټول په دروازه کې ورته وږاړي

سهار وچه ډوډۍ وخوري اوبو سره
وږی نس غرمه کې ورته وږاړي

دا هم غریو نیولی په سلګو کې وي
ښځه یې په وره کې ورته وږاړي

څوک چې ورته نذر یا خیرات ورکړي
دواړه لاس جوړه کې ورته وږاړي

وویل **بېدار** غریبي ورکه شه
زړه به دې سینه کې ورته وږاړي



## بې وفا

په ټول باغ کې بس یو څو ونې د کار وي
په یارانو کې هم څو تنه په شمار وي

چې دا ستا د زړه په درد باندې پوهیږي
چې په غم کې دې غمجن شي هغه یار وي

نن به بیا حجره کې، ټنګ ټکور شروع وي
د منګي سره به ښه سُور کې سیتار وي

بې وفا کلي کې ډېر کم پیدا کیږي
چې همیش وي بې وفا هغه د ښار وي

د دروغجنو له دوستۍ نه دې خدای ساته
په چل ول ژوند تېروي دا یې روزګار وي

ځیني خلک به د بل شر کې خیر ګوري
داسې خلک ازاري د مور او پلار وي

داسې مه وایه چې ټک نه به یې بچ شي
په لستوني کې ساتلی چې دي مار وي

لېونی شو اوس یې ټول په کانو ولي
دې ظالم ته به مظلوم کړی ازار وي

قصوروار دې ځان ونه ګڼه هېڅکله!
قصوروار به همېش ستا په خوله **بېدارېږي**

✶ ✶ ✶

## په ځان مئین

ځان ته هوښیار وایي نړۍ ورته ناپوهه ښکاري
دغه په ځان مئین همېش غټې خبرې کوي

چې لږ صفت دې ورته وکه نو بیا ورکه کلی
ځمکه پرېږدي الوځي بره بس وزرې کوي



## بې تعبیره خوبونه

بیا په ویښه څه نا اشنا خوبونه وینم
ریشتیا وایم په ریشتیا خوبونه وینم

پوره نه شو یو ارمان د زندګۍ مې
بې تعبیره بې مانا خوبونه وینم

هم هغې راسره داسې جفا وکړه
زه چې ټوله شپه د چا خوبونه وینم

که د بخت ستورو اسمان کې غېږې ورکړې
بیا به تاسره دا ستا خوبونه وینم

څومره ښه انځورګري مې ورته وکړه
د فطرت چې د ښکلا خوبونه وینم

ماته خوب له وېرې نه را ځي **بېدار** یم
د بلا او اژدها خوبونه وینم

# تصویر

دا په دېوال چې اویزان تصویر خبرې کوي
ما سره هر وخت د جانان تصویر خبرې کوي

خړو ګردونو د بارودو کې یې رنګ بدل شو
د هر پښتون او هر افغان تصویر خبرې کوي

پخپله نه راځي تصویر یې په میسج کې راشي
د مسافر لالي ارمان تصویر خبرې کوي

په دروغو ځان رهبر کړي، دروغو باندې وخت تېروي
دوی د ولس دي قاتلان تصویر خبرې کوي

اوس زمانه هغسې نه ده خلک ټول پوهېږي
هر سړی پېژني خپل ځان تصویر خبرې کوي



خپله څېره که بدلوي او شکل ټول بدل کړي
بدل به نه شي په ایمان تصویر خبرې کوي

چې وژني ورور او پرې د کفر فتوه هم لګوي
دا به وي څنګه مسلمان؟ تصویر خبرې کوي

چې آئینه کې ځان ته وګورم ځواني را یاد شي
د سر مې سپین شولو ویښتان تصویر خبرې کوي

**بېداره** مه وایه ریشتیا دلته ریشتیا جرم دی
شاوخوا ډېر وي دلالان تصویر خبرې کوي

★ ★ ★

# مطلبي

په تکلیف چې وم اشنا، ته رانه لاړې
زه دې پرېښودم تنها، ته رانه لاړې

ته د غوړ لستوني یار وې، زما نه وې
چې نېستي راغله په ما، ته رانه لاړې

## ژوندون

دا ناقراره ژوندون
د چا دپاره ژوندون

مینه پاګل کړي سړی
سخت دی بې یاره ژوندون

د ژوند مانا به څه وي؟
د بې روزګاره ژوندون

په غریبۍ کې تېر شي
ټول په نهاره ژوندون

منزل ته نه رسېږي
تېر شو په لاره ژوندون



د ځوانۍ عمر لاړو
درومي بې واره ژوندون

د چا په یاد کې تېر شي
هسې بې کاره ژوندون

چې جانان نه وي د چا
شي بې رېباره ژوندون

خداېږو بې خونده تېر شو
واوره **بېداره** ژوندون

* * *

## شخصیت

زما و ستا د شخصیت معیار که وتلل شي
تا په نفرت، ما محبت کې نامه وګټله

ته دېر ظالم شوې، تا په هره کوڅه وینې تویې کړې
تا په وحشت، ما انسانیت کې نامه وګټله

## فرېب

څوک یې په چل هنر، فرېب او په دوکو تېروي
ژوند بې پښتو تېروي
څوک یې په جنګ او د وطن په ورانېدو تېروي
ژوند بې پښتو تېروي

ډېر قسمونه به خوري، پردي مالونه به خوري
تمامه ورځ وخت د حرامو په خوړو تېروي
ژوند بې پښتو تېروي

په چالاکۍ یې وخوري، په بې ننګۍ یې وخوري
دوه درې موټر لویه بنګله وخت په مزو تېروي
ژوند بې پښتو تېروي



د خپل شهرت وږی وي، د ډېر دولت وږی وي
د خپل عزت سودا کوي ژوند بې ابرو تېروي
ژوند بې پښتو تېروي

ټګي برګي به کوي، ښه چالاکي به کوي
**بېداره** ژوند تل د دروغو په وعدو تېروي
ژوند بې پښتو تېروي

✶ ✶ ✶

## مینه او نفرت

مینه زړونه را نژدې کړي نفرت زړونه سره بېل کړي
زما مینه انتخاب دی، د نفرت نه مې نفرت دی

ځئ چې ټول شو سره وروڼه دا یو څو ورځې ژوندون دی
اخرت د هرچا بېل دی د هرچا بېل بېل قسمت دی

## خیال

د فطرت په رنگینو کې
د گلونو په خوشبو کې
د سپرلي په شنه څولۍ کې
د بلبلو په نغمو کې
تصور او خیال کې ډوب شم
د ښایست په اننگو کې
خپله مینه لټومه
ستا د سترگو په ککو کې
د سپوږمۍ سپینې رڼا ته



شپه سبا شي په قیصو کې
خپل غزل په کې لیکمه
په غزل غزل شېبو کې
د پتنگ غوندې په شمع
ځان سېځمه په لمبو کې
د شړشم د زیړو گلو
د کونړ په تاترو کې
د تنر د غونډۍ لاندې
په ښایسته ښکلې ورشو کې
یو تصویر مې دی ساتلی
د خپل زړه په آئینو کې
او انځور مې ترې اېستلی
دی د سترگو په کېمرو کې
دا کوم خوب دی او که خیال و؟
چې **بېدار** یې کړم په شپو کې

✶ ✶ ✶

# امید

شپې پسې سحر خو به حتمي راځي
غم پسې ضرور به خوشحالي راځي

یاد مې شو کونړ د مازیګر چکر
کله به بیا دا مازیګري راځي

زړه مې ورته لاسو کې تحفه کړلو
وا نه‌خیست اشنا زخمي زخمي راځي

وګوري حیا نه سترګې ښکته کړي
ویرې نه خوله یې په تندي راځي

ډېره موده وشوه چې په طمع یو
سوله به راځي که نه راځي، راځي

بیا حجره کې جوړ بندار یارانو که
ترنګ چې د رباب او د منګي راځي

اوس د محبت په دام کې ګېر شوله
اوس **بېداره** تل پرې ښاپیري راځي



# انسان

کله ډېر زیات شي هوښیار کله نادان شي
چې د وخت په ژرنده دَل شي نو انسان شي

په وړه خبره دومره جذباتي شي
په غوسه او په جذباتو ترې کار وران شي

ځینې کار کوي اول وروسته پرې سوچ کړي
چې عمل وکړي نو ډېر ژر پرې پښېمان شي

ځینې ټوله ورځ د بل شر کې خیر غواړي
بس د دوو جنګولو کې شېطان شي

داسې هم شته ځان هوښیار ګڼي له ټولو
هوښیارتیا ته یې کم عقل حق حېران شي

د دلیل او د منطق نه خبر نه وي
په خبرو کې چې راشي نو قاضیان شي

نه مړېږي هېڅ د ځان په صفتونو
له احساس یې کمترۍ مئېن په ځان شي

په هر کار کې خود غرض او لالچي وي
کار د ګټې کې ورپېښ ورته تاوان شي

ځینې دومره شي ظالم په مظلومانو
چې مظلوم ازارولو کې حېوان شي

ځینې ټول ژوند کړي نیکۍ لپاره وقف
څوک په بدو کې پاخه شي ظالمان شي

د چا زړه شي لکه کانی نه خوږېږي
وینې توی کړي ورنه جوړ لوی قاتلان شي

لوی تعریف د انسانیت دا دی **بېداره**
چې نیکي کوي نو هر چا باندې ګران شي

★ ★ ★



# ازاري

زاړه ازارول تا به ځوانان ازارول
هر وخت به دې د کلي ماشومان ازارول

د ظلم هر عمل به دې وحشت ګوته په غاښ که
همېش به دې بې وسه مظلومان ازارول

دا څنګه مسلمان وې چې اسلام نه خبر نه وې؟
جهاد په نوم دې تل مسلمانان ازارول

مالدار ته به دې لاس په سینه ایښی تابعدار وې
بس هر وخت به دې خوار غریبانان ازارول

متل دی چې ازار نه چا بازار موندلی نه دی
**بېداره** لیونی شو کړې په ځان ازارول

## ملامت

ملامت بل ګڼو خو تل مونږه په ځان کړې ده
موږ همیشه لوبه د خپل سر په تاوان کړې ده

نه مو ځان وپیژنده نه مونږه دنیا پیژنو
چې کار غلط کړو وایو دا په موږ شیطان کړې ده

انسانان یو خو انسانیت راته شو ګوته په خوله
ځکه سودا مو د سرونو د انسان کړې ده

څوک کړې کافر څوک کړې مرتد څوک بې ګناه قتل شي
د مسلمان د مرګ فتوه هم مسلمان کړې ده

څه چې کړو هغه ربو ګیله د بل نه کوو
**بېداره** زهرو نه مو طمع د زعفران کړې ده



## پاڅون

څو خبرې کوم سپینې
له زړګي مې څاخي وینې
زړه مې ډک دی له خبرو
تشوم یې جواب راکه
څه سوالونه مې په زړه دي
لږ حساب یې راپیدا که
وایه ته که مسلمان یې؟
ولاړ کلک په خپل ایمان یې
په اسلام کې قتل نشته
قتل عام او وژل نشته
نو ته څنګه مسلمان یې؟

د شېطان په لار روان يې
بې ګناه انسانان وژنې
سپينه خوله ماشومان وژنې
مېندې وژنې، خوېندې وژنې
هم زلمي، بوډاګان وژنې
په جومات باندې حمله کړې
مقتديان، امامان وژنې
کوم عالم چې رښتيا وايي
ته هغه عالمان وژنې
افغانان دې در په در کړل
وږي، تږي دې نهر کړل
ته وحشي که ته انسان يې؟
چې قاتل يې هم نادان يې؟
په غلطه لار روان يې
ځان ته وايې مسلمان يې!
امريکا سره کړې سوله
او دشمن ته، د افغان يې
اوس  نو ټول ولس يو خوله شئ
غږ کړئ پورته يو ناره شئ



دې خونخوار ته سره لمبه شئ
دې حالت ته نه د وتلو
ته ملي پاڅون په کار ردی
لا ترڅو به وژل کېږئ
خپلو وينو کې لمبېږئ
په غندلو په رټلو
باندې نه کېږي هوښيار شئ!
لږ له خوبه راښېدار شئ
ددې حال بدلون لپاره
ملا تړلو ته تيار شئ
چې ددې وطن دښمن وي
مخالف ددې غدار شئ
له حکومت نه پوره نه شوه
دوی په برخو کې اخته دي
دوی په دغه معامله کې
له کلونو اموخته دي
بيا حکومت شولو دوه‌سری
نه منم پکې منم شو
د زورواکو جنګسالارو

مشر هم مارشال دوستم شو
قانون هره ورځ ماتیږي
د زورواکو زور چلیږي
خوار عوام پکې ځوریږي
نور د خپل امن لپاره
په شریکه یو لښکر شئ
یو قوت لکه د غر شئ
په یووالي اتفاق ټول
په دښمن ور برابر شئ
ځان کړئ خلاص له تورتمونو
او رڼا لکه د لمر شئ
بس نو هله به ترې خلاص شئ
چې یو سر شئ، یو رهبر شئ
یو اعلان د قیام وکړئ
یو ناره په لر و بر شئ.

* * *



## بنګړي درنه قربان شه

زما زړه زما ځواني درنه قربان شه
یاره ټوله زندګي درنه قربان شه

د خبرو په هنر باندې پوهېږې
د فنکارو فنکاري درنه قربان شه

تا ویل ما له دې څه راوړه له بازاره
ما ویل واخله دا بنګړي درنه قربان شه

ستا د ننګ قیصې په ټوله دنیا کیږي
پښتنې پیغلې! زلمي درنه قربان شه

یو ماښام به دې مېلمه کړم ټنګ ټکور ته
د غزلو ماښامي درنه قربان شه

زه **بېدار** به شاعري دا ستا په نوم کړم
زما ټوله شاعري درنه قربان شه

## خپل زړه خورمه

ستا په مینه کې زه څه خورمه لګیا یم
هسې ځان له خپل ماغزه خورمه لګیا یم

ته قانع نه شوې خو زه دې کړمه سترې
ټوله ورځ درسره زړه خورمه لګیا یم

د پټې په باره ناست یمه بې غمه
د سوکړک سره سابه خورمه لګیا یم

وږی شوی یم په ځان باندې پوه نه یم
چې هرڅه تاوده تاوده خورمه لګیا یم

څه په پټه مې راوشکول له بوټي
د خپل باغ امونه شنه خورمه لګیا یم

ګنهکار کړلو بېدار ستا صفتونو
قسمونه ښه پاخه خورمه لګیا بم



## قاتل

دا ځمکه ولې نه چوي دا اسمان ولې رالوېږي نه؟
قیامت په مونږ تیریږي خو قیامت اوس رارسېږي نه؟

چې رنګ دې ګلابونه کړل د وینو په رنګونو کې
ظالمه کور دې وران شه چې ستا زړه ولې خوږیږي نه؟

که قتل ته جهاد وایې نو شک دې په ایمان کې دی
کافره ګنهکاره په ګناه دې هېڅ پوهیږې نه؟

په میاشت کې د روژې دې جنازه کې خودکشي وکړه
بل مړه دې ماشومان کړه د مور غېږو نه بیلیږي نه

خرڅ شوی په پردو یې ته قاتل د افغانانو یې
په وینو دې خوله سره ده او لګیا یې لا مړېږې نه

## نور ځم له کلي

زه بــه نــور ځــم لــه کلي
کـــډه بـــه وړم لـــه کلي

تاپســـې ډېــر خفـــه وم
چـــې زه راتلـــم لـــه کلي

پټـــې ســـلګۍ مـــې وکـــړې
چـــې ووتـــم لـــه کلي

مونــږه يــو بــل تــه کاتــه
لاره کـــې ســـم د کلي

لـــه مجبـــورۍ مـــې پرېښـــود
نـــور ستاســـو چـــم د کلي



پـــه پـــسرلي رايـــاد شي
ګل د شړشـــــــم د کلي

مانـــه شـــو پاتـــې اشـــنا
ښـــادي او غـــم د کلي

ډکـــه ځولـــۍ بـــه راوړم
ګلونـــــــه وړم د کلي

**بېــــداره** ډېــر مــې خــوښ دي
ســـابه بـــه خـــورم د کلي

* * *

## د سرو لمبو تصویر

د اوښکو د جرگو سره تصویر واخلم که نه
ژړا او د سلگو سره تصویر واخلم که نه

زمونږ د ژوند اغاز د اور لمبو نه شروع شوی
ددغه سرو لمبو سره تصویر واخلم که نه

د هر افغان د ژوند قیصه د درد یو لوی داستان دی
د درد له دې قیصو سره تصویر واخلم که نه

ددې خاورې په رگ رگ وینه داسې بهیدلې
د وینو د لښتو سره تصویر واخلم که نه

کنډر کنډر وطن مو ټول چور کړی رهزنانو
د ماتو دروازو سره تصویر واخلم که نه

**بېداره** چې په سپین نقاب یې تور مخونه پټ دي
له داسې فرېښتو سره تصویر واخلم که نه



## زه پښتون یمه

نه پوهېږم پر په کوم قانون یمه
وژنې مې په دې چې زه پښتون یمه

راشه چې نن زه او ته حساب وکړو
خپله فیصله به په دې باب وکړو
سم به مخامخ سوال او جواب وکړو
ستا د ظلم جبر یو مضمون یمه
وژنې مې په دې چې زه پښتون یمه

ټول عمر دې زه ډېر ځورولی یم
خپلو کې دې هم ډېر جنگولی یم
تل دې د فریب په اور سېځلی یم
نن دې هم وژلي هم پرون یمه
وژنې مې په دې چې زه پښتون یمه

ته یې ډېر چالاک او فرېبکار دشمن
ته یې د لستوني لکه مار دشمن
ته مې له پخوا نه وې مکار دشمن
ستا دلاسه هر وخت څیګرخون یمه
وژنې مې په دې چې زه پښتون یمه

تا تل د پښتون کور نړولي دی
یو ورور دې په بل باندې وژلی دی
څوک دې دغدار په تور نیولی دی
زه **بېدار** حېران ستا په جنون یمه
وژنې مې په دې چې زه پښتون یمه

✶ ✶ ✶

## قطعه

مینه وکړه، مینه واخله چې ژوندی شې
ژوند ته وخانده چې ژوند درته موسکی شي

ته به هله د خپل ژوند په مزه پوه شې
چې نفرت نه نفرت وکړې او سړی شې



## وچه چینه

نه راځي سینه یې وچه شوې ده
شعر یادوم چینه یې وچه شوې ده

نوره د مېوې طمع ترې مه کوه
بیخ نه چې تنه یې وچه شوې ده

وینه په کې نه شته تش کالبوت ولاړ
رنګ، شکل، ګونه یې وچه شوې ده

نه وایي مطرب د ژوند سرود راته
ساز شته، سازینه یې وچه شوې ده

وګوره **بېدار** ته ظاهر څنګه دی؟
روغ ښکاري، ینه یې وچه شوې ده

# د یادونو ډیوې

باران پرې راورېږي د یادونو ډیوې مړې شوې
رڼا لـه ژونـده لاړلـه تورتـم تـورې تيـارې  شـوې

د دې وطـن بـازار کـې هرچـا خپلـه سـودا وکړه
د چا په کې تاوان وشو د چا په کې مزې شوې

قيصه يې له درد ډکه وه سلګو کې يې شروع کړه
په مخ باندې يې مړاوې رڼې اوښکې راخورې شوې

د چا سره چې زر او زور وي هر ځای کې ازاد وي
غريب وره کې ولاړ دی پسې بندې دروازې شوې

ترخو چې دا تضاد وي او په حق سترګې ړندېږي
ولس به خوارو زار وي ټولې هيلې بې اثرې شوې

موږ هره ورځ افسوس کوو او لاس دعا ته جګ کړو
چې هر کلي نه جګې يو ځو غبرګې جنازې شوې

**بېـــداره** د انصاف طمع تـرې کلـه پيدا کيـږي
فساد چې ختم نه شي بې انصافه فيصلې شوې



# د کلي خوند

ښکلی نـری نـری بـاران وو چـې زه تلـم کلي تـه
هم راسره څنګ کې جانان وو چې زه تلم کلي ته

مـا ويـل ښـې پيسـې ګټـم مسـافري ختمـوم
په زړه کې دغه مې ارمان و چې زه تلم کلي ته

د سـوچ او خيـال څپـې ملګـرې د سفر  وې زمـا
بس د يادونو لوی داستان و چې زه تلم کلي ته

شـاوخوا غرونـو يـې عجيبـه شـان ښـکلا درلـوده
د کونړ سيند مېنځ کې روان و چې زه تلم کلي ته

پـه شـنو پټـو کـې لوپټـې لکـه بېـرغ د هېـواد
داسې رپانده پاس اسمان و چې زه تلم کلي ته

**بېـــداره** ماتـه هغـه ټولـې خاطـرې رايـاد شـوې
چې راسره به ټول ياران وو چې زه تلم کلي ته

## له هر چانه کار خطا دی

څه له ما او څه دا ستا نه کار خطا دی
په هر ځای کې له هر چا نه کار خطا دی

موږ په ځان لوبې کوو ځان پورې خاندو
د هر چا له خپله ځانه کار خطا دی

همېش بل ته ګوته نیسو چې دا ولې؟
خو ضمیر مې وایي مانه کار خطا دی

د اسلام سپېڅلي دین نه ناخبره
د طالب او د مُلا نه کار خطا دی

چې ټول غله یې راچاپیر کړه خپل محل نه
اوس به ژاړي د بادشاه نه کار خطا دی



د دوه سري حکومت په کشمکش کې
د غني او عبدالله نه کار خطا دی

ماته ټوله دنیا ګډوډه ښکاري
دا خو ځکه له دنیا نه کار خطا دی

نن یې غوږ کې راته وویل **بېداره**
په ریښتیا، د ریښتیا نه کار خطا دی

✶ ✶ ✶

## یادونه

د زړه له کوره مې دا ستا یا دونه ټول ووتل
خواږه خواږه اشنا یادونه ټول ووتل

په ډېر احتیاط مې په هر راز هره خبره باندې
سوچ مې کاوه ورنه بیابیا یادونه ټول ووتل

# بې هدفه ژوند

بې منزله په کږو لارو روان شوم
بې هدفه مې ځان ستړی که ستومان شوم

نه مې ځان د يار له ځانه سره ځان که
نه دا ستا شومه جانانه، نه د ځان شوم

د وختونو د رفتار پسې په منډو
ليرې لاړمه خو پاتې له کاروان شوم

اوس به غاړه غړی دواړه جوړه گرځو
لکه اوښکه دې ملگرې د گريوان شوم

ما د درد قيصه تمامه درته وکړه
خو دا ستا په بې حسی پورې حېران شوم

سر وهلی، بر وهلی پکې گرځم
د مجنون غوندې دېره په بيابان شوم

د ريښتياوو سزا دغه وي **بېداره**
په ريښتيا وينا د ژبې اوېزان شوم



# کاش !!

کاش چې ژوند کې غم نه وی خفگان نه وی
کاش چې ژوند د هيڅ کس پرېشان نه وی

کاش چې د نفرت نوم په دنيا نه وی
کاش چې زړونه پاک پکې شيطان نه وی

کاش چې وای وروري خوږه له هرڅه نه
کاش چې دشمني په سود او زيان نه وی

کاش چې امن، امن وی په لر او بر
کاش چې جنگ په خاوره د افغان نه وی

کاش چې په يووالي، اتفاق وی ټول
کاش چې پښتانه خپلو کې وران نه وی

کاش چې انسانيت وی له انسان سره
کاش چې حېوان‌خويه انسانان نه وی

کاش چې يوسړی بل ته احتياج نه وی
کاش چې څوک د هېچا غلامان نه وی

کاش چې پوره شوی وی د هر انسان
کاش چې په زړگي د چا ارمان نه وی

کاش چې وی د علم رڼایي خوره
کاش چې بېعلمي او سادهګان نه وی

کاش چې دنیا ټوله لکه کلی وی
کاش چې پابندي په یو انسان نه وی

کاش چې هېڅ غریب په دې دنیا نه وی
کاش چې زوراور نه وی، خانان نه وی

کاش چې جرم نه وی او مجرم نه وی
کاش چې څوک په جرم بندیوان نه وی

کاش چې دنیا ټوله مینه، مینه وای
کاش چې بغض، کینه په دې جهان نه وی

کاش چې لږ احساس ورسره وی د ژوند
کاش چې دا ځانمرګي قاتلان نه وی

کاش چې یو فتوه د محبت ورکړي
کاش چې خود غرضه ملایان نه وی

کاش چې د هر چا ضمیر **بېدار** شي لږ
کاش چې بیا به هېڅوک پښېمان نه وی

★ ★ ★



## جنګ

ګټه نشته ټول تاوان کوي په جنګ کې
څوک چې چا سره ګوزران کوي په جنګ کې

جنګ دې ورک شي تباهي د انسانیت ده
صرف فایده پکې شېطان کوي په جنګ کې

دا متل دی چې په جنګ کې مړي کیږي
بس ژړا به هر انسان کوي په جنګ کې

هره ستونزه په خبرو هواریږي
شر خو هسې ماشومان کوي په جنګ کې

د افغان په خاوره خپل غرض لپاره
د وسلو دوی امتحان کوي په جنګ کې

دا چې ځان پوخ مسلمان ګڼي **بېداره**
قتل عام د مسلمان کوي په جنګ کې

## مه وایه ریشتیا !!

مه وایه ریشتیا دروغ پاخه وایه
شپې ته وایه ورځ، ورځې ته شپه وایه

یو کار چرته ښه په ژوند کې ونه کړې
ښو ته وایه بد، بدو ته ښه وایه

سم ته هیڅ په سمه سترګه مه ګوره
سم چې دې لیده ورته کاږه وایه

چا چې اورېدل او لیدل سم کول
ته ورته ړانده او هم کاڼه وایه

شین اسمان ته ورېځ وایه او ورېځ ته شین
سپین ته وایه تور او تور ته شنه وایه

خومره چې سودا سپکه تللې شي
وخوره پرې قسم ورته درانه وایه



خېټه کې حرام اچوه ښه په خوند
صرف ورته حلال پخپله خوله وایه

رحم چرته ونه کړې غریب باندې
وینې څښه خو ته ورته اوبه وایه

وا مې ورید **بېدار** نه طنزیه غزل
هر څه اوره، هرڅه مه وایه

✶ ✶ ✶

## سترګې

ځینې سترګې سم خوږل کوي په سترګو
ځینې سترګې ویرول کوي په سترګو

د چا سترګې جادوګرې لیونۍ وي
د چا سترګې بس وژل کوي په سترګو

## ګلونه په لمبو کې

بیا مې ولیدل ګلونه په لمبو کې
رنګ یې تور و د بارودو په لوګو کې

ښه په ځیر مې ورته وکتل خو نه و
د خوښی انداز یې سپینو اننګو کې

د خندا زور یې په شونډو پاتې نه و
صرف موسکی به شوه د سترګو په لېمو کې

د رباب اوس هاغه سوز په ډډ کې نشته
درد یې نشته د تارونو په نغمو کې

بېګاه دواړه تر سهاره **بېدار** ناست وو
شپه مو تېره کړه یو بل ته په کتو کې



## هوښیار به شي

نن که دی ماشوم دی سبا پلار به شي
خیر که اوس کم عقل دی هوښیار به شي

هر څو که انکار کوي له مینې نه
ښه په دې باور لرم چې یار به شي

چا کې چې څوک خپله ګټه ویني
ګرد به ترې تاویږي ورنه زار به شي

لاړو رنګینو د ښار فریب ورکړو
کلی ورنه پاتې شو د ښار به شي

څوک چې په ریښتیا د قام خدمت وکړي
ګوره په سیالانو کې د شمار به شي

ښې خبرې دې باندې ترخې لګي
زه چې ریشتیا ووایم په قار به شي

یو ورځ به ویښیږي دا ویده پښتون
خپل د حق غوښتلو ته تیار به شي

سور به شي **بېداره** بیا د ژوند رباب
ساز به شي، نغمه د یکه زار به شي

# سلام واخله

سلام واخله يو سلام راباندې وکړه
درنه ځار شمه لږ پام راباندې وکړه

ساقي ټوله مېخانه مې پکار نه ده
بس پېرزو د يوه جام راباندې وکړه

زه چې خومره احترام درکوم تاته
ته هم دومره احترام راباندې وکړه

د يو ښکلي مخ ليدو ته يم لېواله
لږ ديدن يې يو ماښام راباندې وکړه

په **بېدار** نن مهربانه شې خالقه!
د خواږه غزل الهام راباندې وکړه



# پټه خندا

غلي خوا له راشي په شا لاړه شي
پټه په خندا شي په شا لاړه شي

وموسکي په شونډو کې او ناز وکړي
ګوډ نه چې پناه شي په شا لاړه شي

مور چې يې دېوال نه سر راپورته کړي
يو دم وارخطا شي په شا لاړه شي

کله کوي ناز او کله ښه غوسه
کله په ژړا شي په شا لاړه شي

پټ کوي **بېدار** سره د سترګو جنګ
کله چې رسوا شي په شا لاړه شي

## د زړه درد

د زړه له درده سوځم او په درد مې نه پوهېږم
سبب يې معلوم نه دی چې په څه ګناه کړېږم

همــت کــوم راپاڅــم او د درد مقابلــه کــړم
خو بيا مې هم ښپې رپي او په ځمکه ګوزارېږم

دنيا په تق تق خاندي له مستۍ نه لېونۍ ده
خو زه د خپل ژوندون تصوير ته ناست يمه ژړېږم

چالوټ کړم چاتالاکړم څوک د سر مې سوداګر دي
هم تا وم اباد کړی اوس هم ستا په لاس ورانېږم

ای! لږ خو فکر وکه سر دې ښکته که ګريوان کې
چې ما سره جنګېږې خود به تاسره جنګېږم

**بېداره** واوره نه کيږي د جنګ انجام په جنګ
اخر به په جرګه مرکه جنګ ځنې خلاصېږم